Fonds

د انکشاف او کلتور
لپاره د شهزاده کلاز د
بسپنې صندوق

ICCROM

د کلتوري ملکیتونو د ساتنې او
بېرته په خپو درونې لپاره د
مطالعاتو نړیوال مرکز
( اکرام – ICCROM)



# د کړکیچ پر مهال
# کلتوري میراث لپاره
# لومړنۍ مرستې

٢
د سامان بکسه

د انکشاف او کلتور
لپاره د شهزاده کلاز د
بسپنې صندوق

د کلتوري ملکیتونو د ساتنې او
بېرته په خپو درونې لپاره د
مطالعاتو نړیوال مرکز

# د کړکېچ پر مهال د کلتوري میراث لپاره لومړنۍ مرستې

## ۲. د سامان بکسه

د ملموس او غیر ملموس کلتوري میراث د خوندي کولو لپاره بیړني حالت ته د همغږي چمتووالي او ځواب ورکولو/غبرګون ښودلو لپاره

اَپرنا تندن

چاپ شوی لخوا: د کلتوري ملکیتونو د ساتني او بیرته په خپو دروني لپاره د مطالعاتو نړیوال مرکز ( اکرام – ICCROM)
Via di San Michele 13, Rome, Italy

او د کلتور او پرمختګ لپاره د شهزاده کلاز د بسپنې صندوق
Herengracht 603,1017 CE Amsterdam, The Netherlands
د اکرام موسسې، شهزاده کلاز موسسې او د سمیتسونین انستیتیوټ د همکارۍ په چوکاټ کې په بېړني حالت کې د کلتوري میراث لپاره د چمتووالي او ځواب ورکونې د ظرفیت لوړولو لپاره.

© ICCROM 2021
© Prince Claus Fund for culture and Development 2021
ICCROM ISBN 978-92-9077-341-2

| | |
|---|---|
| **گډه-جوړونه** **اصلي/کلیدي لیکواله او ایډیټ کونکې** | اېرنا تېدن ، اکرام |
| **د مفرداتو په چمتو کولو کې ځانګړې ونډې** **پېښې وروسته په ساحه کی د زیان او ګواښ ارزونه** | ایلکي سیلتر، روهیت جیګیاسو، یوجیني کریټي |
| **خوندیتوب او سمبالونه** | یوجیني کریټي، ایلکي سیلتر ، زافیررومیو، اسمیرالده پوییپیریو |
| **د پېښې بیلګې** | ماریا سیسیلیا رادریګز مورینو، یوجیني کریټي، ایهور پوشیفالیو، کیاومیو کو، ایلکي سیلتر ، ولنټاین سپانو، لیلا صالح |
| **علمي کتنه** | جیسیکا ډوپال، جانتن ایتون، سونیا جیوفینازي |
| **څېړنه** | جیسیکا ډوپال، ولنټاین سپانو |
| **د معلوماتو ډیزاین** | کرسټوفر ملپیټان |
| **د پښتو نسخه** **ژباړه** | غلام فاروق صافی، سید تمیم هاشمی |
| **مرور / ایدیت** | ضابط مجبور |
| **د پښتو ډیزاین او همغږي** | نادیه هاشمی، د سید او نادیه مشورتي شرکت (S&N) Consultancy) |
| **همغږي** **اکرام** | کترین انتومارچي، اېرنا تېدن، جینیفر کپیتورن، ایزابیل دی بریسیس، و ایزابیل ویرجر |
| **د شهزاده کلاز موسسه** | ډیبورا ستوک |

**د دې کتاب پښتو ترجمه د برټش کونسل په سخاوتمندانه مرسته ترسره شوې ده چې د زړه له تله ترې مننه کوو.**

دا خپرونه د جواز 4.0 Attribution- -ShareAlike 4.0 International (CC BY-NC-SA) پر بنسټ د پرانیستي لاسرسي لپاره تیاره شوې ده (https://creativecommons.org/licenses/by-nc-sa/4.0/).
د دې خپرونې د محتوی په کارولو سره، کاروونکي مني چې د اکرام موسسې د هرې راتلونکې د پرانیستي لاسرسی ور ذخیرې د کارولو د شرایطو پابند دي.
پدې خپرونه کې کارول شوي عنوانونه او د موادو وړاندې کونه د اکرام موسسې او د کلتور او انکشاف لپاره د شهزاده کلاز موسسې له اړخه د یو هیواد، سیمې، ښار یا یوې ساحې یا د هغوی د چارواکو د قانوني وضعیت یا د سرحدونو د معلوملو/کښولو اړوند د نظر ځرګندونې معنی نلري.

پدې خپرونه کې څپاره شوې نظریات په لیکوالانو پورې اړه لري او په اکرام موسسې او د کلتور او انکشاف لپاره د شهزاده کلاز موسسې پورې تړاو نه لري او همداراز په دغه دواړو موسسو باندې الزامي ندي

## مفردات


- د سامان د بکسی پکار اچول ....................... ٥


## د پیښې نه وروسته په ساحه کې د اووختي زیان او ګواښ ارزونه


- فهرست های مندرجات..................................... ٨
- نحوۀ ترسیم پلان ساحه و خریطه (نقشه)................... ١١
- خصوصیات یک فورمۀ ارزیابی مفید.......................... ١٤
- نمونه های ارزیابی آسیب و خطر پس از رویداد......... ١٥
- نکات مهم برای جمع آوری معلومات درمورد آسیب ......... ٢٦
- آسیب های ساختاری و غیر ساختاری معمولی ........... ٢٨


## تحفظ و تثبیت حالت


- شبکه بندی برای نقشۀ مکان ها........................... ٣٩
- ساختن کود های مکانی..................................... ٤١
- اختصاص دادن شماره های شناسایی خاص................... ٤٢
- مستند سازی یک عملیۀ تخلیه.............................. ٤٤
- مستند سازی یک عملیۀ نجات............................... ٤٦
- نکاتی برای رسیدگی و تا و بالا کردن ........................ ٤٨
- نکاتی برای بسته بندی..................................... ٤٩
- مواد عضوی و غیر عضوی عام.............................. ٥٣
- اولویت بندی (ترياژ)........................................ ٥٥
- تثبیت حالت میراث فرهنگی منقول.......................... ٥٧
- مواد و تجهیزات برای تخلیه و نجات........................ ٦٧
- پوشش موقت............................................... ٧٣
- خوازۀ ابتدایی/ساده........................................ ٧
- نکاتی برای خشک کردن ساختار ها ......................... ٩٢
- مواد و تجهیزات برای تثبیت حالت اضطراری حالت ساختار ها و تعمیر ها.. ٩٣

منابع و مآخذ.................................................. ٩٧

## د سامان د بکسې د پکار اچونې لارې چارې

مهرباني وکړئ لاندې يو څو لارښوونو ته  پام وکړئ  چې تاسو سره د دې  سامان د بکسې په کارولو کې مرسته کوي.

**د کتاب تنې**
د هرې پاڼې په پورتنۍ برخه کې به تاسو د متقابل عمل وړ تنۍ ومومئ، کوم چې تاسو سره د دې سامان د بکسې د علاقې وړ برخو ته په رسېدنه کې مرسته کوي.

**د اتومات لېږدونې وړ اړيکې/لينکونه**

**نیلي او ډبل:** په دې سند کې د ځانګړو برخو لپاره لينکونه/اړيکې دي.

**لارښوونې:** د تجربې پر بنسټ مشوره

**خبرداری/پاملرنه:** پام وکړئ چې د نا اتکل شوو ګواښونو او يا غلطيو د واقع کېدو مخه ونيسئ

**ډېر ولولئ:** لا نور لوستل

# د کلتوري میراث د لومړنیو مرستو عملیاتي چوکاټ



# د ساحې د زیان او ګواښ ارزونه





## په ساجه کې د زیان او ګواښ د ارزونې چک لست/کتنلست

په اغېزمنو شوو سیمو کې د ساحې د ارزونو د تر سره کولو پر مهال، شخصي مصونیت باید له هر څه لوړ لومړیتوب وي. ساحې ته د ورتګ دمخه لاندې لارښوونې په پام کې ونیسئ:

ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو ساحې ته د ننوتلو لپاره تولې اړینې اجازې لرئ.

✓ ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د ارتباطاتو د تامینولو لپاره لږ ترلږه یوې وسیلې ته لاسرسی لرئ، د بېلګې په ډول یو ګرځنده تلیفون، یا د وي ایچ ایف رادیو/مخابره.

✓ د محلي پولیسو د مرکزونو/حوزو، د پولیسو د کنترول خونو، د اور وژنې مرکزونو/اطفایو، د امبولانس د خدماتو د تلیفون شمېرې یادداشت کړئ چې د بېړنې حالت په صورت کې ورسره اړیکې ټینګې کړئ.

✓ د ګواښوونکو حالاتو څخه ځان وساتئ او خبردار اوسئ چې د ناورین په اغېزو کې ممکن اضافي ګواښونه، لکه د زلزلې وروسته جټکې، د ځمکې ښویدنې، چور او داسې نور شامل وي.

✓ د خپل شاوخوا چاپیریال څخه باخبره اوسئ او د دې لپاره چې د اړتیا په صورت کې ورته مراجعه وکړئ تر ټولو نږدې خوندي سیمه په نخښه کړئ.

✓ ارامه اوسئ او ګورئ چې چیرته ځئ.

✓ د مصونیت د مناسب لباس د اغوستلو پرته ساحې ته مه ځئ.

✗ د ساحې شاوخوا یوازې مه ګرځئ او چې په پلان کې مو نه وي په هغو لارو مه ځئ.

✗ د سړک حالت ممکن ډېر خراب او لاسرسی خورا محدود وي. خپل سفر ښه پلان کړئ

✗ او په تیارې کې د موټر چلولو څخه ډډه وکړئ.

ساحې ته د رسېدو دمخه، ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو لاندې تجهیزات او اکمالات لرئ ترڅو

په ساحه کې د زیان او ګواښ ارزونه پیل کړئ:

د شخصي محافظت تجهیزات (پوره لست په راتلونکې پاڼه کې وګورئ).

☐ د زیان او ګواښ د ارزونې فورمې.

☐ که اجازه ولرئ، د عکسونو اخیستلو او جغرافیایي کوارډیناتو د ثبتولو لپاره کېمره،

☐ او داسې تلیفون یا ټابلیټ چې عکسونه واخیستلی شي، له ځان سره ولرئ. په داسې حالاتو کې چې کېمرې او ګرځنده تلیفون ته اجازه نه وي، د سکېچ کتابچه له ځانه سره د سکېچونو د رسمولو او یادداشتونو اخیستلو لپاره ساحې ته یوسئ.

د اضافي بیټریو سره لاسي څراغ.

☐ د امکان په صورت کی د اندازه کولو فیته، د سروې پایې او د سروې لیول ولرئ.

☐ د لوري/جهت معلومونکي (قطب نما)،په ځینو تلیفونو کی د د ثبتولو لپاره داسې کاریالونه/اپلیکیشنونه شته چې د لوري معلومونکي (قطب نما) لری.

د درزونو د سور د اندازه کولو اله.

☐ د واټن معلوملو لایزري اله.

☐ د عکس د اندازو حواله کارتونه.

☐ کلپ بورډونه.

☐ خالي او د خانو لرونکی کاغذ.

☐ په خپلو نقشو کې د ځانګړتیاوو د نخښه کولو لپاره عادی پنسلونه او رنګه پنسلونه. د قلمونو د کارولو څخه ډډه وکړئ، ځکه که فورمه لنده شي، رنګ به خپور شي، او تاسو شاید ډېر مهم معلومات له لاسه ورکړئ.

☐ پنسل پاکونه، پنسل تراشونه او خطکشونه.

☐ د امکان په صورت کی، د حساب ماشین.

☐ د خبرداري فیتې، رسۍ او نخښې.

☐ د اوبو بوتلونه او خواړه.

☐ د مسول کلیدي پرسونل د تلیفون د شمېرو لست، چې تاسو به ورسره به بېړنیو

☐ حالاتو کی د اړیکې نیولو اړتیا ولرئ لکه د امنیتي چارو مسولین، د اطفایې د مرکز کارونکي، د امبولانس اداره او نور.

.BC Housing. 2018. Rapid Damage Assessment. Burnaby, BC Housing
پدې پته کې شتون لري: https://perma.cc/686P-5JFE

## د شخصي محافظت د تجهیزاتو چک لست/کتنلست

د بېړني حالت د ډول او هغه ساحه چې مستند سازي کیږي، په پام کې نیولو سره ، لاندې تجهیزات باید ساحې ته له رسېدو دمخه ترلاسه شي ، ترڅو د ډلې د ټولو غړو شخصي خوندیتوب ډاډمن شي:

- ☐ کلکه خولۍ.
- ☐ د لوړې کچې د لیدلو وړ جاکټ یا واسکټ.
- ☐ د بشپړ اوږدوالي پتلون او د اوږدو لستوڼو کمیس.
- ☐ بند بوټان.
- ☐ د اضافي بېټریو سره لاسي څراغ .
- ☐ شپېلاق.
- ☐ د دوړې چڼ لرونکي ماسکونه.
- ☐ د صنعتي خوندیتوب دستکشې.
- ☐ د خوندیتوب عینکې.
- ☐ د شخصي لومړنیو مرستو بکسه/کڅوره.
- ☐ حشراتو ضد مواد (که شتون ولری) .
- ☐ د امکان په صورت کی مکروب ضد لاس پاکوونکي

Connecticut Technology Transfer Center. 2010. Protective Equipment for Workers in Hurricane Flood Response. Connecticut, School of Engineering, .University of Connecticut
پدې پته کې یې موندلی شئ: https://perma.cc/LG2T-FTDZ

Heritage Collections Council. 1998. reCollections: Caring for Collections Across Australia — Managing People. Canberra, Heritage Collections Council.
پدې پته کې یې موندلی شئ: https://perma.cc/RR45-BJDW

## د ساحې پلان څرنګه رسم کړو؟

د زیان د ارزونې او مستند سازۍ لپاره د ساحې او فرش پلانونه ګټور دي. که چېرې تاسو د دې دواړو نه يو هم نلرئ، نو تاسو د لاندې قدمونو په اخيستلو سره يو **پلان** جوړولای شئ:

١ د خپلې رسامۍ لپاره د پيمانې د ټاکلو په موخه د اغېزمنې شوې ساحې شاوخوا وګرځئ تر څو د ساحې د ابعادو، د توازن يا تناظر د محور، او د هغې د عمومي شکل په اړه يو درک تر لاسه کړئ. د خپلې رسامۍ لپاره **د پيمانې ټاکلو** پر مهال په نقشه کې د شاملولو لپاره په شاوخوا سيمو کې موجود عناصر لکه اړونده بارزې نخښې ، د ګواښ ساحې او داسې نور په پام کې ونيسئ.

٢ د **پيل نقطه غوره کړئ** (د مثال په توګه د جوړښت يو کونج) او په خانه لرونکو کاغذ باندې يې په نخښه کړئ.

٣ تاسو اوس کولی شئ چې **د ودانۍ شاوخواء وګرځئ** او **دېوال په دېوال پلان رسم** کړئ. د ارزونې پدې پړاو کې په ځانګړې توګه چې تاسو بايد زيانمن شوي جوړښت ته ډېر نږدې نشئ، تاسو اړتيا نلرئ چې د پلان د رسم کولو پر مهال ډېر دقيق واوسئ. که تاسو د اندازه کولو هيڅ ډول وسايل نلرئ، تاسو د خپلې خپې قدم يا ګام د تقريبي واحد په توګه کارولی شئ: د يو قدم اوږدوالی د نږدې يو متر سره مساوي دی.

٤ په نقشه کې **غوره شوې مقياس يا پيمانې** او د **حوالې لوری روښانه کړئ** (د بېلګې په توګه، شمال يا قبله)

٥ ودانۍ يا ساحې ته د **لاسرسي سړکونه** او **د ننوتلو اصلي ځايونه** په ګوته کړئ. جوته شوي **خونديي سيمې** (که چېرې وي) په ګوته کړئ چې وروسته په بېړنۍ توګه د باثباته کولو او ذخيره کولو، يا د تخليې لپاره د موټر پارک کولو لپاره کارول کېدای شي.

٦ دا مه هېروئ چې **د شاوخوا هغه عناصر** په ګوته کړئ ، چې د نړېدو په صورت کې ودانۍ د ګواښ سره مخ کولای شي.

٧ د بشپړو ړنګېدو په صورت کې، هغه خلک په کار کې راګډ کړئ چې په نوموړې ساحه کې کار يا ژوند کوي، که داسې نور مدارک نه وي چې تاسو ته لارښوونه وکړي، دوی تاسو ته لارښونه وکړی شي.

ځان ډاډه کړئ چې تاسو د ساحې په پلان کې اووختی زيان او نوري مشاهدې داسې په روښانه ډول په نخښه کوئ، چې د خپل پلان په عکس کې يې هم ولوستلی شئ




*د ښار د ماڼۍ د ساحې نمونه ای نقشه، اډي پور، هند، ۲۰۰۹ کال. عکس: روهیت جیګیاسو*

## اساسي نقشه څرنګه جوړه کړو؟

کله چې په يوه سيمه کې ډېرې ساحې زيانمنې شوې وي، اساسي نقشې ته اړتيا ليدل کيږي. کچېرې د اغيزمنې شوې سيمې اساسي نقشه نه وي ، نو د سپوږمکۍ عکس په کارولو سره چې د پېښې د کچې او ماهيت په پام کې نيولو سره ساحه/ښار/سيمه ښيي، يوه نقشه په چټکۍ سره چمتو کېداى شي.

اساسي نقشه بايد شمال په ګوته کړي، او اړونده جوړښتونه، د لاسرسي سړکونه او لارې، او د واک حدود/بريدونه/څلورخواوې وښيي.

که چېرې ناورين يا کړکېچ په پراخه کچه وي، چې ټوله سيمه يا ښار يې اغېزمن کړی وي، په مناسبه پيمانه يا مقياس يوه نقشه، چې د کلتوري ميراث د ټولو اغېزمنو شوو ساحو موقعيت په ګوته کوي، بايد جوړه شي. هرې ساحې ته بايد د پېژندنې يوه ځانګړې شمېره ورکړل شي چې وروسته د چټکې ارزونې لپاره ترې کار واخيستل شي.

## د پېښې څخه وروسته د زيان او ګواښ د ارزونې د يوې کټورې فورمې عمده ځانګړتیاوې کومې دي؟

١ **لنډه وي** او بشپړول يې اسانه وي.
٢ د **ځايي شرايطو** او **ژبې** سره برابره ترتيب شوې وي.
٣ په اغېزمنه شوې سيمه کې د منقول ، غير منقول او غير ملموس کلتوري ميراث لپاره **معياري** او مناسبه وي.

د ډلې د غړو سره د زيانونو او ګواښونو د هرې کټګورۍ د تعريفونو په اړه بحث وکړئ، ترڅو ثبت شوې معلومات په ټوله ډله کې يو شان وي. دا کار په ځانګړې ډول په هغو حالاتو کې ډېر اړين دی چې کاري ډله لويه وي او د هغې ګڼ فرعي ګروپونه معلومات ثبتوي.

که څه هم فورمې کېداى شي د ګواښ او د کلتوري ميراث لپاره ځانګړې وي، دوى بايد د زيان او د ګواښ د بشپړو ارزونو په ترسره کولو کې مرسته وکړي. د بېلګې په ډول، که لومړنی ګواښ زلزله وي، فورمه بايد داسې وي چې د اړتيا په صورت کې د نورو ګواښونو د ارزونې لپاره، لکه اور او سخت باران هم د کارونې وړ وي.

فورمه بايد داسې طرح/جوړه شي چې د څو حقايقو نه د يو د انتخاب فرصت ولري او د کيفي معلوماتو ثبتول ورپکې هم ممکن وي. چېرته چې لازمه وي، په بېلابېلو کچو معلومات راټول کړئ، کوم چې کېداى شي د يو بل فرعي برخې هم وي، لکه:

١ د سيمې/ښار / ناحيې په کچه.
٢ د ساحې په کچه.
٣ د ودانۍ په کچه.
٤ د ټولګي/توکو په کچه.



## په ساحه کې غیر منقول او منقول کلتوري میراث ته د اوختو زیانونو او ګواښونو ارزونه او ثبتونه

**لومړۍ نمونه**

کله چې په ساحه کې منقول او غیر منقول کلتوري میراث ته د اوختي زیان او ګواښ د جلا یا واحدې ارزونې لپاره فورمې طرح کوئ/جوړوئ، د دې لاندې نمونې نه یکې کار اخیستلی شئ، کومه چې د معلوماتو کچه او د هغې ممکنه برخې په ګوته کوي.

د دې لپاره چې په ساحه کې مو وخت په اغیزناکه توګه استعمال کړئ، د معلوماتو ځینې لست شوې برخې لکه نوم، ارزښت یا ملکیت د ساحې د باندې ډکېدای شي.

ورکړل شوو معلوماتو ته داسې سمون ورکړئ چې ستاسو په سیمه کې د کلتوري میراث اړوند معمول/مروجه توکې او کړنلارې په خپل ځان کې راونغاړې.

سربېره پردې، دا چې هیڅ دوه بیړني حالات یو شان ندي، نو په دې نمونه کې ورکړل شوې ټول معلومات ممکن د ګواښ د هغې ځانګړې پېښې د اغیزو سره تړاو ونلري، چې تاسو ورسره مخ یاست. د بېلګې په ډول، کچیرې په یو پېښ شوي حالت کې، د کلتوري میراث ودانۍ زیانمنې شوي وي او دننه توکي جوړ پاتې وي، تاسو کولای شئ د کلتوري میراث د ودانیو د ارزونې د فورمې د جوړلو لپاره دا نمونه وکاروئ، خو پدې نمونه کې ورکړل شوي د معلوماتو ټولې کچې او برخې به ستاسو په درد ونه خوري، نو یواځې ډېرې اړونده کچې او برخې په فورمه کې شاملې کړئ.

که تاسو وغواړئ چې د اوختي زیان او متوجه ګواښ د بشپړې ارزونې فورمې چمتو کړئ، نو ډاډ ترلاسه کړئ چې هغه ډلې چې دا ډول فورمې کاروي، ګڼ – مهارته دي او د دواړو غیر منقول او منقول میراث د زیان او ګواښونو پېژندلو اړوند دمخه روزنه ورکړل شوې ده.

١ د ارزونې نېټه/ نېټې.

٢ د ارزونکي/ ارزونکو نوم/نومونه.

٣ د ارزونکي/ارزونکو د اړیکې مفصل معلومات.

٤ که لازمه وي د ارزونکي/ ارزونکو مسلک.

**لومړۍ کچه/پوړ: سیمه/ښار/ناحیه (کله چې ناورین د سیمې په کچه وي)**

١. د ښار/ناحیې نوم او جغرافیایي کواردینات یې.

٢. د پېښې تفصیل

٣. د لومړني ګواښ طبیعت (د بېلګې په ډول، طبیعي که د انسان پلاس جوړ شوی)

طبیعي ګواښونه: زلزله، بحري توپان، د شګو توپان، سیلاب، اور ، او داسې نور

د انسان پلاس جوړ شوي ګواښونه: ورانکاري، اور لګونه، اتومي ککړتیا، جنګ/نظامي اقدام، او داسې نور

**دوهمه کچه/پوړ**

ساحه (په هغه وخت کې ځانګړې تړاو پیدا کوي، کله چې اغیزمنه شوې ساحه د لرغونو اثارو او د کلتوري میراث د نورو بېلابېلو ډولونو د ملموسو او غیر ملموسو عناصرو په شمول ساحات ولري.

١. د ساحې نوم.

٢. د کواردیناتو په شمول د ساحې موقعیت.

٣. که ضروری وي ، د ارزونې فورمې برسېره د ساحې هغه کلیدي نقشه وکاروئ په کوم کې چې د مختلفو اجزاوو موقعیتونه په نخښه شوي وي.

٤. د خوندیتوت کچه ( د بېلګې په ډول، نړیواله، ملي، ځایي، یا غیر خوندي)

٥. د ساحې په کچه د زیان درجه څه ده (د بېلګې په ډول، ټیټه، منځنۍ، سخته)

٦. ایا په ساحه کې داسې اضافي کثافات او زهرجن کثافات شته چې پاکولو ته اړتیا لري ؟

٧. ایا ساحه د مصونیت او باثباته کولو د کړنو د تر سره کولو لپاره مصون او اوزګار د کار ځایونه لري؟ د ساحې په نقشه کې د دوی موقعیت په ګوته کړئ. همداراز دا خبره ثبت کړئ، چې ایا په ساحه کې یا ورسره په څنګ کې د متوسطو او درنو موټرو لپاره د پارکینګ/ د درولو ځای شته.

٨. زیانونه ثبت کړئ.

چېرې چې ممکنه وي او معلومات موجود وي، د عاید، خلکو، او یا زېربناوو په بنه کې اوختي زیانونه ثبت کړئ. ځینې اړخونه چې باید په پام کې ونیول شي، په لاندې ډول دي:

- د پېښې دمخه او وروسته د کارمندانو شمېر.
- د عاید سره مستقیم تړاو لرونکي فعالیتونه ، د بېلګې په ډول د عتیقه موادو ډالۍ پلورونکي، لاسي صنایع، ګرځندوی مېلمه پالنې سره تړلې سوداګرۍ.
- د پېښې دمخه او وروسته د لیدونکو یا زایرینو اوسط شمېر.

**دریمه کچه/پوړ: ودانۍ**

په یاد وساتئ چې: لاندې پوښتنې او وړاندیزونه د یوې ودانۍ د ساحې د ارزونې سره د مرستې لپاره ډیزاین شویدي:

١ الف. د ودانۍ نوم.

ب. د ودانۍ د توکو د لست شمېره څه ده ( که چېرته د مخکې نه شتون ولري)؟

ج. که د ودانۍ د توکو د لست شمېره معلومه نه وي، نو ودانۍ ته د حوالې شمېره وټاکئ.

٢ د ودانۍ ملکیت د چا دی (عامه، شخصي یا ناڅرګند)؟

٣ اوس مهال دا د څه لپاره کارول کیږي، د بېلګې په ډول ایا دا سوداګریزه، مذهبي، یا عامه ( یادګار، کتابتون، موزیم، ښوونځي، او داسې نور) ودانۍ ده؟

٤ د فعالیت د دوام کچه څه ده: هیڅ ګډوډي، بشپړه ګډوډي، په ځانګړې ساحه کې ګډوډي ، مګر فعالیت په نورو ځایونو کې دوام لري؟

٥ ایا د فورمې برسېره تاسې لاندیني توکي راټول کړي دي: د ساحې نقشه، د پېښې دمخه د ودانۍ عکسونه، رسمونه او سکېچونه؟

٦ د مصونیت کچه: په نړیواله کچه، ملي کچه، محلي/ځایي کچه، غیر مصونه.

٧ د ودانۍ اړوند عمومي معلومات:

الف. ایا د ودانۍ په اړوند مخکني معلومات موجود دي ( د بېلګې په ډول، د فرش پلانونه، مخامخ نماګانې)

ب. که هو، هغوی چېرته موقعیت لري/معلومات د چا سره دي؟

ج. ایا مخکني معلومات د زیانمنې شوې ودانۍ د ارزښت (ښکلا ، تاریخي، کلتوري، مذهبي، ساینسي یا اقتصادي) ښکارندويي کوي؟

د. د روحاني، مذهبي یا نورو غیر ملموسو ارزښتونو درلودلو په صورت کې، ایا د مرمت ځانګړو لارو چارو یا اقداماتو ته اړتیا شته؟ که هو، نو دا خبره جوته کړئ چې کومو اقداماتو ته اړتیا ده او هغه ځانګړي خلک (مذهبي رهبران، د ټولنې مشران، او داسې نور) څوک چې باید دا اقدامات سر ته ورسوي، چېرته موندلای شئ؟

٨ د زیان کچه څه ده: د ټیټې کچې ، د منځنۍ کچې، د لوړې کچې یا بشپړ ړنګېدل؟

٩ په ودانۍ کې کوم ډول مواد کارول شوېدي، د جوړولو لپاره يې د جوړونې د کوم سيستم څخه استفاده شوېده، او ودانۍ په کومه برخه کې ډېر زيان ليدلی دی (د بېلګې په ډول، ديوالونو، چت، فرش يا په ساختاري عناصرو کې)

أ. ديوال

ب. چت

ج. د فرش توکي

د. د ساختار عناصر

١٠ که ودانۍ ته مهم غير ساختاري زيان اوختی وي هغه تشريح کړئ او د ودانۍ په فرش پلان کې يې په نخښه کړئ.

د اوختي زيان د بېلابېلو ډولونو عکسونه واخلئ، د عکسونو سره تړاو لرونکي شمېرې د فرش په پلان کې وليکئ.

١١ اوختي زيانونه لست کړئ.

| لومړني ګواښ | دويمي ګواښونه | ګواښ (په خونديتوب/د کلتوري ميراث په ارزښتونو احتمالي اغېزه) | د زيانمنني فکتورونه/ عناصر (اصلي لاملونه) |
|---|---|---|---|
| زلزله | د زلزلې وروسته جټکې، اور | د اتلسمې پېړۍ د لرګيو جوړ توکي شايد اور واخلي، ودانۍ ته نږدې اوسېدونکي بېځايه شوي، خلک شايد ژوند د لاسه ورکړي. | په خراب حالت کې ساتل شوي غزول شوي برقي مزي، ودانۍ ته نږدې بېځايه شوي خلک برېښنا او ګيس استعمالوي. |

١٢ ايا ودانۍ (ودانيو) ته نږدې د کار لپاره داسې خوندي ځايونه شته چې د ودانۍ د بېرنۍ باثباته کولو د فعاليتونو د پلي کولو او د ارزښتناکو توکو يا اکمالاتو د ذخيره کولو لپاره کارول کېدای شي؟

١٣ ايا له ساحې نه د کثافاتو پاکول اړين دي؟

١٤ ايا اغېزمنې شوې ودانۍ (ودانيو) ته نږدې د منځنۍ کچې او درنو وسايطو د درولو/ پارک کولو لپاره ځای شته؟

١٥ د ودانۍ د خونديتوب او باثباته کولو لپاره اړين اقدامات لست کړئ. د امکان په صورت کې، محافظينو او ځايي کارپوهانو سره په مشوره کې، د لازمو اقداماتو لپاره اړين لګښتونه چمتو کړئ.

**ځلورمه کچه/پوړ: ښيان/د ښيانوټولګي**

١ په ودانۍ کې ښيان/ د ښيانو ټولګي څېرته موقعيت لري؟ د پوړ او خونې شمېرې په ګوته کړئ.

٢ ايا ښيان د هغوی په اصلي يا د پيښې نه دمخه موقعيتونو کې دي؟ که نه، نوي موقعيتونه په فرش پلان يا د ساحې په نقشه کې په ګوته کړئ.

٣ د ښيانو د ټولګو اړوند عمومي معلومات:

أ. ايا د ښيانو د ټولګو اړوند مخکني اسناد شته (د بېلګې په ډول، د توکو لست، د توکو د ثبت کتاب، معلوماتي کتابچې/کتلاګونه)؟ که هو، هغوی چېرته موقعيت لري، اسناد د چا سره دي؟

ب. ايا مخکني اسناد د زيانمن شوو توکو ارزښت (بېلګلا ، تاريخي، کلتوري، مذهبي، ساينسي او اقتصادي) په ګوته کوي؟

ج. د روحاني، مذهبي يا نورو غير ملموسو ارزښتونو درلودلو په صورت کې، ايا د مرمت ځانګړو لارو چارو يا اقداماتو ته اړتيا شته؟ که هو، نو ادا خبره جوته کړئ چې کومو اقداماتو ته اړتيا ده او هغه ځانګړي خلک (مذهبي رهبران، د ټولنې مشران، او داسې نور ) څوک چې بايد ادا اقدامات سر ته ورسوي، چېرته ورته اړتيا ده؟

٤ د زيانمن شوو توکو نوعيت ثبت کړئ. بېلګې يې عبارت دي له: نقاشي ګانې، سکې، کتابونه، په لاس ليکل شوې نسخې، اسناد، عکسونه، صوتي فيتې، بصري فيتې، ديوالي نقاشي ګانې، موزايک، مجسمې، او داسې نور.

٥ ستاسې له اټکل له مخې څومره توکي شايد دغلته موجود وي؟ که چېرته توکي ډېرې شوي وي او اټکل کول يې ستونزمن وي، د ډېرۍ ابعاد واخلئ (لوړوالی، اوږدوالی، او پلنوالی/عرض)، عکس واخلئ، او د عکس د حوالې شمېره په فورمه، او فرش پلان يا د ساحې په پلان کې په ګوته کړئ.

٦ الف: د اوختي زيان ډول ثبت کړئ:

- لوند
- سوى
- بد شکله
- مات
- شليدلى
- درزونه

- فنګس
- د حشراتو ځپلي
- په ختو ککړ
- لوګي وهلى
- د کيمياوي موادو جمع کيدل
- نور (تشريح يې کړئ)

ب. د زيان کچه په ګوته کړئ.

**لومړی کچه (ټيټه):** ): د توکي د سمبالوني پر مهال، زيان نور نه زياتيږي (توکی د ځانګړې پاملرنې پرته لېږدول کېدای شي).

**دوهمه کچه (منځنۍ):** د توکي د محتاطانه او ارام لېږد پر مهال، توکي ته زيان نور نه زياتيږي. ليکن د توکي د بې احتياطه سمبالوني يا د مرمت په صورت کې، د زيان د لا ډېرېدو زيات احتمال شته.

**درېمه کچه (لوړه):** حتی د توکي محتاطانه او له زحمت ډکه سمبالونه به موجود زيان لا زيات کړي. د اوختي زيان د بېلابېلو ډولونو عکسونه واخلئ، د عکسونو د حوالو شمېرې په فرش پلان کې وليکئ.

٧ شيانو/ د شيانو ټولګو ته اوختي زيانونه لست کړئ:

| لومړني ګواښ | دويمي ګواښونه | متوجه ګواښ (د کلتوري ميراث د ارزښتونو په خونديتوب احتمالي اغيزه) | د زيانمنني فکتورونه/ عناصر (اصلي لاملونه) |
|---|---|---|---|
| سيلاب | فنګس | په لومړي منزل او تکاوۍ کې شته عضوي شيان/توکي به اغېزمن شي. په ودانۍ کې شته فنګس به لومړنيو غبرګون ښودونکو او کارمندانو ته ګواښ رامينځته کړي. | ساحې ته د لاسرسي اصلي سړک زيانمن شويدی، ودانۍ ترل شوېده، کرکۍ نشي خلاصېدای، او برېښنا نشته. |

٨ ایا نږدې خوندي ځایونه چې د توکو د باثباته کولو او ذخیره کولو لپاره وکارول شي، شته ؟

٩ ایا د اغېزمن شوو توکو درلودونکې ساحه کې او یا ورته نږدې د منځنی کچې او درنو وسایطو د درولو/پارک کولو لپاره ځای شته؟

١٠ د شیانو/د شیانو د ټولګې د خوندیتوب او باثباته کولو لپاره اړین سملاسي اقدامات لست کړئ. د امکان په صورت کې، محافظینو او ځایي کارپوهانو سره په مشوره کې، د اقداماتو لپاره اړین لګښتونه چمتو کړئ.

## په ساحه کې د غیر ملموس کلتوري میراث لپاره د زیانونو او ګواښونو ارزونه او ثبتول

**دوهمه نمونه:**

لاندې نمونه د معلوماتو کچه او ممکنه برخې (هغه معلومات چې باید راغونډ شي) په ګوته کوي، کوم  چې د غیر ملموس کلتوري میراث لپاره په ساحه کې د زیان او ګواښ د ارزونې لپاره د فورمې په جوړولو کې باید په پام کې ونیول شي. تاسې شاید دې ته اړتیا ولرئ چې ورکړل شوو معلوماتو ته داسې سمون ورکړئ چې ستاسو په سیمه کې معمول/مروجه غیر ملموس کلتوري میراث په خپل ځان کې راونغاړي. دا کارونه باید د ناورین د پېښېدو دمخه تر سره شي. په هر صورت، څرنګه چې دوه بېړني حالتونه یو شان ندي، لدې کبله دا نمونې بیا هم دې ته اړتیا لري چې د ګواښ هغې ځانګړې پېښې چې تاسو ورسره مخ یاستئ او په غیر ملموس کلتوري میراث باندې یې د اغېزو سره ورته سمون ورکړل شي.

١ د ارزونې نېټه (نېټې).

٢ د ارزونکي (ارزونکو) نوم (نومونه)

٣ د ارزونکي (ارزونکو) د اړیکې معلومات

**لومړۍ کچه: سیمه/ښار/ناحیه:**

١ د ښار/ناحیې نوم او جغرافیایي کواردینات یې.

٢ د پېښې تفصیل.

٣ د لومړني ګواښ نوعیت (د بېلګې په ډول، طبیعي دی که د انسان پلاس جوړ شوی).

٤ طبیعي ګواښونه: زلزله، بحري توپان، د شګو توپان، سېلاب، اور، او داسې نور.

٥ د انسان پلاس جوړ شوي ګواښونه: ورانکاري، اور لګونه، اتومي ککړتیا، جنګ/نظامي اقدام، او داسې  نور.

٦ د ساحې موقعیت او د لزوم په صورت کې د هغې د کواردیناتو سره.

٧ د لزوم په صورت کې د عناصرو د موقعیت سره د ساحې کلیدي نقشه .

## دوهمه کچه: عناصر

١ د عنصر نوم او تفصيل.

٢ د عنصر ډول:

أ. د ژبې په ګډون شفاهي دودونه او څرګندوني.

ب. هغه هنرونه چې عملي کيږي/نمايشي هنرونه.

ج. ټولنيز دودونه، مذهبي رسمونه، او تفريحي محفلونه.

د. د طبيعت او کايناتو اړوند پوهه او چلند.

ه. دوديزې لاسي صنايع.

د پورته لست شوي عناصرو ډولونه د غير ملموسو ميراثونو د ساتنې لپاره د يونيسکو د ٢٠٠٣ کال د کنوانسيون سره مطابقت لري. پداسې حال کې چې د دې ډولونو تر مينځ توپير کول ممکن تل اسانه نه وي، دا سپارښتنه کيږي چې د ښېړني حالت د اغېزو په پايله کې ښکيلې ډلې د دوی د ډولونو په انګيرنه باندې موافقه وکړي، او اغېزمن شوی غير ملموس کلتوري ميراث د انګيرنې سره سم په ګروپونو وويشي. د اړونده عنصر د ډول د جوتولو لويه موخه دا ده تر څو پوه شو چې کوم ډول غير ملموس کلتوري ميراث (زيات) زيانمن شويدی. که لازمه وي ، ډلې شايد وغواړي چې دا ډولونه په نورو ځايي اړوندو اصطلاحاتو سره عوض کړي (د بېلګې په ډول جشنونه، نقاب لرونکي نڅاء، موسيقي، مذهبي رسمونه).

٣ د خونديتوب کچه: نړيواله/ملي/ځايي/غير خوندي.

٤ د کلتوري صنايعو، لاسي صنايعو او داسې نورو په صورت کې، په ګوته کړئ چې په لاندېنيو کې کوم يو اغېزمن شويدي:

أ. اومه/خام مواد.

ب. ب. د توليد ځای، ماشينونه وسايل، د توليداتو ذخيره يا مواد.

ج. ج. کارمندان، ماهره کارګران.

د. د. بازارونه ( خرځلاو او مشتريان)

ه. ه. د مهارت ليږدونه.

٥ **د اغېزو تفصیل :**

له درې کچو نه د هرې کچې لپاره د اغېزمنتیا څرنګوالی بیان کړئ. مهرباني وکړئ د لاسرسي، د اوږدې مودې لېږدونه او جاري ساتنه هم په پام کې ونیسئ.

أ. ملموسې شتمنۍ: کوچنۍ/منځنۍ/سخته.

ب. خلک: کوچنۍ/منځنۍ/سخته.

ج. پوهه او دودونه: کوچنۍ/منځنۍ/سخته؟

**د زیان د کچې یادونه:** د یو عنصر د اغېزمنتیا حد (کوچنی، منځنی یا سخت) به په ځانګړې حالت پورې تړاو ولري. د امکان په صورت کې، د ورته ډول په بېلابېلو غیر ملموسو کلتوري میراثونو باندې د اغېزو د شدت کچه پرتله کړئ (د بېلګې په ډول بېلابېل جشنونه)، یا د بېلابېلو ډولونو غیر ملموس کلتوري میراثونه (جشنونه، مذهبي رسمونه، لاسي صنایع، او داسې نور). د ارزونې د ترسره کولو دمخه د ارزونې د ډلې لخوا باید د ارزونې په میتودولوژۍ باندې موافقه وشي، او کېدای شي د ارزونې وروسته، د ټولې ډلې سره په مشوره سره نوره هم تعدیل شي. د زیانونو د کچې د ارزونې اصلي موخه دا ده چې پوه شو چې کوم ډول غیر ملموس کلتوري میراثونه، یا د غیر ملموس کلتوري میراث کوم ځانګړي عناصر د نورو پرتله ډېر زیات اغیزمن شوي دي.

٦ . **د فعالیت د دوام کچه څه ده:** هېڅ ډول ګډوډي/ بشپړه ګډوډي/ په ځانګړې ساحه کې ګډوډي، خو په نورو ځایونو کې د فعالیت دوام؟

٧ تشریح یې کړئ چې په کلتوري عنصر باندې اغېزې، ټولنه څرنګه اغېزمنه کوي. چېرته چې امکان ولري (چېرته چې معلومات موجود وي ، یا اټکل کېدای شي) نو پدغه صورت کې مهرباني وکړئ د اغېزمن شوو خلکو/کورنیو شمېر یا سلنه/فیصدي اضافه کړئ (او هغه کټګوري چې اغېزمنه شوېده ، شامله کړئ):

أ. مستقیم؟

ب. غیرمستقیم؟

۸ کوم دویمي/ثانوي ګواښونه کولای شي چې د کلتوري میراث عنصر اغېزمن کړي؟ دوی لست کړئ، او همدارنګه د احتمالي اغیزو چې ممکن یې ولري تشریح کړئ.

| لومړني ګواښ | دویمي ګواښونه | د کلتوري میراث د ارزښت په خوندیتوب باندې د متوجه ګواښ (اغیزې) | د زیانمنني فکتورونه/ عناصر (اصلي لاملونه) |
|---|---|---|---|
| زلزله | د زلزلې وروسته جټکې | د کلتوري میراث د عاملینو ژوند تر ګواښ لاندې دی، د سختې تولنیزې ګډوډۍ له کبله دود شاید جاري و نه ساتل شي. | نامناسبه استوګنه، د بیمې یا تاوان اخیستنې د سیستم نه شتون. |

## د زیان اړوند معلوماتو راټولولو لپاره لارښوونې

- د بېړني حالت په پړاو کې باید یواځې جدي زیان ثبت شي. د سستو او په تدریجي ډول د خرابېدونکو پروسو او ګواښونو په ثبتولو باید وخت ضایع نشي. دی کار ته تر هغو انتظار کولی شو چې حالت د تفصیلي ارزونو د تر سره کولو لپاره مناسب شي.
- کله چې تاسې د غیر ملموس کلتوري میراث د زیان او ګواښ ارزونه تر سره کوئ، تاسې کولای شئ دا ارزونه د دې سره د تړلو ملموسو عناصرو (ودانۍ، وسایل، لباسونه او داسې نور ) او د خلکو د ارزونې څخه پیل کړئ. د بېلګې په توګه، کچېرې لاسي صنایع اغېزمن شوي وي، نو د لاسي صنایعو تولیداتو، هغه تجهیزات او وسایل چې کارول کیږي، د اړتیا وړ اومو/خامو موادو، او د کار ځایونو ته د اوختې زیان ارزونه وکړئ. په ورته وخت کې، هڅه وکړئ چې پوه شئ چې پخپله هنرپیشه خلک څرنګه اغېزمن شویدي.
- د همدغه یو زیان یا یو زیانمن شوي ځای د ډېرو زیاتو عکسونو د اخیستلو نه ډډه وکړئ، ځکه دا د معلوماتو راغونډول/تنظیمول پېچلي کوي. پرځای یې، داډ ترلاسه کړئ چې یو څو ښه کیفیت لرونکي د پراخه شاټ عکسونه ولرئ او د اړتیا په صورت کې اړونده توضیحي عکسونه واخلئ .
- خومره چې امکان لري په عیني واقیعتونو او په بصري مشاهداتو ولاړ، او د مرکو نه لاس ته راغلي معلومات را جمع کړئ.
- که تاسو د تعبیرونو او تحلیلونو د بیانولو لپاره اړینې وړتیاوې ونلرئ، نو د بیانولو نه یې ډډه وکړئ.
- د معلوماتو د راټولولو په وخت کی متوجه واوسئ چې د معلوماتو یوه برخه د هغې بله برخه نقض نکړي ، او معلومات په داسې بڼه راټول کړئ چې په اسانۍ سره د

ښېرته تولید ورټیا ولري، دا معلومات د مرکو سره ترتیب کړئ.

- ډاډ تر لاسه کړئ چې تاسي د شمېرو/اعدادو نه وراخواء معلومات راټولوئ. دا هم ډېره اړینه ده چې خلکو سره خبرې وکړئ – په ځانګړې ډول له ګټه/دلچسپي لرونکو لکه د ساحې مدیرانو، ځایي ټولنو او ځایي چارواکو سره.
- را جمع شوي معلومات باید داسې وي چې په اسانۍ سره ولوستل شي او په اسانۍ سره تعبیر شي.
- په ډېر احتیاط سره وګورئ: ارزښتناک معلومات شاید په کثافاتو کې پټ وي.
- د دې لپاره چې معلومات ضایع نشي ، د ګنو وسیلو، لکه د ارزوني فورمو، لیکلي یادانښتونو، سکېچونو او عکسونو، او تخنیکي وسایلو نه کار واخلئ.
- د کلتوري میراثونو د زیانونو په اړه معلومات ډېرې وختونه حساس وي او ځینې وختونه د کړکېچ سرچینه وي . د هغه معلوماتو د خوندي کولو لپاره چې تاسو یې راټولوئ، اقدامات وکړئ (د بېلګې په توګه د کمپیوټر کوډ شوي سخت ډرایف کارول) او معلومات یوازې د اړونده چارواکو سره شریک کړئ.

## ودانیو او جوړښتونو ته اوختي عادي ساختاري او غیر ساختاري زیانونه

لاندې د کلتوري میراث ودانیو او جوړښتونو ته د بېلابېلو ګواښوونکو پېښو لکه زلزلو، بحري توپانونو، اور او سېلاب له کبله اوختي ځینې ساختاري او غیر ساختاري زیانونه لست شویدي.

دا یادداشت د زیان عادي بڼې چې د بېلابېلو ګواښونو له کبله د جوړښتونو او موادو لاندې ډولونو ته اوختي وي، لست کوي. لیکن دا په هیڅ ډول یو تولشمول او بشپړ لست ندی. په یاد ولرئ چې د یو ساختمان د ځانګړي ډول لپاره یوعادي لست شوی زیان، شاید د ساختمان په بل کوم ډول کې هم واقع شي. دا همداراز په هغه لاره پورې اړه لری چې ګواښ یې تعقیبوي. د بېلګې په ډول د اور پواسطه اوختی زیان په دې پورې تړاو لري چې اور چېرته رامینځته شوی دی.

- **د تیګو نه جوړ هغه جوړښتونه** چې د بار اوچتوونکي دېوالونه او قیچي ډوله چت لري.
- د لرګیو چوکاټ لرونکی جوړښت.
- **د خښتو نه جوړ هغه جوړښتونه** چې د بار اوچتوونکي دېوالونه،

**د خښتو کمان** او ګنبدی لري.

د کلتوري میراث زیانمن شوي جوړښتونه چې لا هم ولاړ پاتې وي، هر وخت نړېدای شي. لدې کبله د یو ساختماني انجنیر یا د یو مهندس نه، څوک چې ستاسې په سیمه کې د کلتوري ودانیو د نړېدو د میکانیزمونو سره اشنایي لري، مرسته وغواړئ.

**د تیګو نه جوړ جوړښت** د بار اوچتونکو دېوالونو، د لرګي د چوکاټ، او د قیچي ډوله چت سره.

**ګواښ: زلزله، بحري توپان**




۱ د عمودي او افقي ساختارونو د اتصال په نقطه کې د زیان رامینځته کېدل: د چت او یا دېوال بېځایه کېدل د دواړو تر مینځ رابطه ضعیفه کوي او په پایله کې دېوال درزونه کوي.

۲ د چت زیانمنتیا: دا هغه وخت پېښېږي کله چې شینګلونه (یو ډول مواد چې د چت باندینۍ برخه کې کارول کېږي) یا د چت نور توکي په خوندي ډول وصل شوي نه وي او نشي کولی چې پورته لوري ته د اغېزي لرونکې قوې په مقابل کی مقاومت وکړی، لکه هغه قوه چې د بحري توپان له کبله رامینځته شوې وي. په سختو قضیو کې، کېدای شي د چت پوښ والوزي.

۳ د دېوال د باندې خوا ته وتل/بوږی کول: کله چې د یو دېوال دوه برخې/بازوګان په سم ډول یو د بل سره وصل نه وي، او د بغلي خارجي قوې د فشار لاندې راشي، دېوال په اسانۍ سره د باندې خوا ته اوځي/بوږی کوي.

٤ مایل درزونه: دا عادي درزونه دي، د موازي فشار په وړاندې چې د بغلي داخلي قوې لخوا مینځته راځي، د تیګو/خښتو د دېوالونو د ټیټ مقاومت له امله پیدا کېږي . دوی معمولاً د دېوال په کم مقاومت لرونکې برخه کې واقع کېږي.

٥ د دېوال کرېدل: کله چې یو دېوال د بل دېوال سره ډېر کلک وصل شوی وي او د بغلي

خارجي قوي تر فشار لاندې راشي، پداسې حالت کې دېوال کرېدای شي.

٦ د کنج درزونه: کله چې د ( T, L یا C) شکله ودانیو د دوو برخو/ضلعو تر مینځ د سختوالي د توپیر له کبله فشار راجمع شي او ودانۍ د بغلي قوې د تاثیر لاندې راشي، د کنجونو درزونه مینځته راځي.

٧ د ودانۍ د مخامخ نما جلاوالی: دا ډول زیان معمولاً د کنجونو د هغو درزونو پواسطه رامینځته کیږي چې په هر پوړ کې واقع کیږي او د ودانۍ د لاندې نه د پورته په لور زیاتیږي، یا درزونه مخامخ نما ته نږدې داخلي دیوالونو او پوړونو کې واقع کیږي.

٨ د کمان د اخیري دېوال ړنګېدل: د کمان اخیري دېوال د ده د اوچتوالي او ډېر ډبل والي تر مینځ د ټولو نه لوړ نسبت لري (پدې معنی چې لوړوالی یې د ډبل والي په نسبت ډېر زیات دی)، او معمولاً دا د چت سره ډېر سست وصل وي. کله چې دا د بغلي خارجي قوي تر فشار لاندې راشي نو ډېر په اسانۍ سره ړنګیږي.

٩ د قبضو نه د لرګي د دروازو جدا کېدل: د لرګي دروازې یا شترونه، په ځانګړي توګه که د ناورین پېښېدو پر مهال خلاصې وي، شاید د قبضو نه بېلې شي.

١٠ د کمزوري پوړ ړنګېدل: کله چې یوه سطحه یا پوړ لدې د بره سطحې پر تله د سخت والي مختلفه کچه ولري، د بېلګې په ډول په مخامخ نما کې لوی خلاص ځایونه موجود وي، نو کله چې دا د افقي قوي تر فشار لاندې راشي، په اسانۍ سره ړنګېدای شي.

**د خښتو نه جوړ هغه جوړښتونه** چې د بار اوچتوونکي دېوالونه، د خښتو کمان او ګنبدی لري.

**ګواښ: زلزله، بحري توپان**




١ د کمان جزوي سقوط: د کمان ډېر پورته کول ممکن کليدي عناصر بېځايه کړي او په پايله کې د کمان تسلسل مات کړي. ځرنګه چې د معمارۍ پاتې عناصر د يو بل سره په مثلثي شکل کې وصل شوي وي ، نو لدې کبله په اسانۍ سره ړنګېدای شي. دا پديده ډېره ګواښونکې ده، ځکه کمانونه اکثرا د نورو عناصرو لپاره د يوې تکيې په توګه کار کوي.

٢ د يوې ګنبدې په لاندينۍ برخه کې واړه عمودي درزونه: د ګواښ د پيښې د لړ دوام له امله ، په کومې کې چې د فشار قوي زياتيږي ، دا ډول درزونه تر هغو چې حفاظتي دېوالونه مضبوط وي ګواښوونکي نه دي. ګنبدی معمولا د جانبی/ بغلي قواو په مقابل کې ډېر مقاومت لري.

٣ د تکيې ړنګېدل: که دېوال له تکيې سره په کافي اندازه قوي نه وي وصل شوی، تکيه به ړنګه شي او نور به د دېوال د نړېدو مخه ونه نيسي.

٤ يو له بله له جدا کېدو پرته مايل درزونه: دا درزونه جوړښت کمزوری کوي، مګر تر هغو پوری ګواښونکی ندي تر څو چې بار اوچتونکي عناصر يو له بله جدا شوي نه وي.

٥ د خښتو په کمان کې سپک اوږده درزونه: دا ډول درزونه د خښتو کمان کمزوری کوي، ليکن تر څو چې هغه دېوالونه مضبوط وي چې کمان ورسره لرېدلی وي او تر څو چې ورسره په خوا کې نور کمانونه بې ثباته شوي نه وي د خښتو د کمان د سمدستي نړېدلو ګواښ نه رامينځته کوي.

٦ د خښتو په کمان کې درزونه: د هغو دېوالونو نړېدل چې کمان ورسره لرېدلی وي داسې

فشار تولیدوي چې د خښتو په کمان کې د درزونو د پیدا کېدو سبب ګرځي او په پایله کې د خښتو کمان ړنګیږي. کمان لرونکې تکاوۍ اکثرا د جانبی/ بغلي قواو پر وړاندې دېرې مقاومې وي، ځکه د دوی محافظوی دېوالونه مضبوط وي.

٧ د چت د بشونو ړنګېدنه: کله چې بار اوچتوونکي دېوالونه د باندې خوا ته حرکت وکړي، د چت بشونه لدي کبله چې د تکیې ساحه يې کمه شوي وي، ماتیږي او ړنګیږي. دا د چت د بشونو لپاره د محافظت له لاسه ورکولو په معنی ده.

٨ افقي درزونه: دا ډول درزونه د مختلفو موادو تر مینځ په مشترکه سطحه کې مینځته راځي، دوی، تر څو چې د دېوال کومې برخې کوم لوري ته حرکت نه وي کړی، جدي/ خطرناک نه دي.




## د لرګیو چوکاټ لرونکی جوړښت

**ګواښ:** زلزله، بحري توپان

١ د چت بر لوري ته الوتل: کله چې زوروره سیلۍ د یوې ودانۍ مخامخ نما ووهي، نو چت بر لوري ته الوځی . د ودانۍ مخې ته پوښلي چتونه په ځانګړي ډول زیانمنونکي دي، ځکه د چت هغه سطح چې د ګواښ سره مخ ده خورا زیاته ده. ټول هغه شیان چې سره نښتی نه وي په هوا کې په الوتونکو ګواښوونکو توکو بدلیږي او هغه خالی ځایونه چې د دوی د پورته الوتلو له امله مینځته راځي ودانۍ ته د اوبو ننوتلو فرصت برابروي.

٢ د دودکش ړنګېدل: د دودکشونو اندازې، شکل، موقعیت او شمېر ته په پام سره، دوی په ځانګړي ډول د لویو جانبی/ بغلي قواو پر وړاندې زیانمنونکي دي. د ډېرو نه جوړ جوړښتونه هم د دې ډول ګواښ سره مخ کېدای شي.

٣ د خلا ډکوونکو دېوالونو ړنګېدل: کچېرته دېوالونه سم مضبوط شوي وي، نو باید د جانبی/ بغلي قواو پواسطه اغېزمن نشي. خو کچېرته د اصلي بدنې سره په مضبوط ډول نښتي نه وي، دا ډول دېوال په اسانۍ سره نړېدای شي.

٤ په هوا کې الوتونکي توکي: توپاني سیلۍ او بمي چاودنې د شیانو (په ځانګړي توګه دروازې او کړکۍ) د ماتېدنې او حرکت کولو لامل کرځي او دوی په هوا کې په الوتونکو ګواښوونکو توکو بدلېدای شي.

٥ د ځمکې د نرمۍ له کبله د تهدابونو/بنسټونو کیناستل: دا هغه حالت دی په کوم کې چې د زلزلې د ټکانونو له امله د مشبوع شوو خاورو قوت او سختوالی خورا زیات کمیږي. له همدې امله خاوره نور نشي کولای چې د ودانۍ د بنسټونو حفاظت وکړي او د پام وړ زیان اوختنې لامل کېدای شي.

٦ د ضمیمي جلا کېدل: لویې جانبی /بغلي قواوې کولای شي یوه ودانۍ له بنسټونو څخه جلا کړي، په ځانګړي توګه په هغه حالت کې چې یوه ودانۍ په یو زیانمن شوي/کمزوري دېوال باندې ولاړه وي.

٧ د شاوخوا لوړو عناصرو نړېدنه: د کلتوري میراث د ودانۍ په شاوخوا کې شته ونې یا پایې شاید په ودانۍ راوغورځیږي او د ودانۍ چت یا نورو برخو ته د زیان اوختنې لامل وګرځي.

**د تیکو نه جوړجوړښت** د بار اوچتونکو دېوالونو، د لرګي د چوکاټ، او د قیچي ډوله چت سره ګواښ: سیلاب، اور




١ د چت نړېدنه: اور د قوي پر وړاندې د لرګیو مقاومت کموي. کچېږي چوکاټ زیانمن شي، چت ړنګیږي، او د دېوال هغه برخه هم شاید ړنګه شي، په کوم باندې چې چت تکیه درلوده.

٢ د اوسپنیزو او فولادي بشونو ړنګېدل: کله چې اوسپنیز او فولادي بشونه د ٣٦٠ درجې نه د لوړ حرارت سره مخ شی ، دوی د بار اوچتولو ظرفیت د لاسه ورکوي. د دروند بار په صورت کې، د بېلګې په ډول کله چې دوی د بشونو په توګه کار کوي، دوی کږیږي او د هغې ساختاري دندې د سر ته رسولو وړتیا له لاسه ورکوي چې په ودانۍ کې یې سر ته رسوله. د دې په پایله کې شاید بره موقعیت لرونکې معماري هم په جزوي ډول ړنګه شي.

٣ د لرګیو د بشونو ړنګېدل: د لرګیو د بشونو د بره معماري د لرګیو د سوزېدنې تېزوالی ورو کوي او دا حالت د دې سبب کېږي چې ډېری لرګي سالم پاتې شي او بار اوچت کړای شي. که نه نو په پایله کې کېدای شي د لرګي د بش نه بره معماري په جزوي ډول ړنګه شي.

٤ د دېوالونو چپه کېدل: که دېوالونه نور د چت یا فرشونو پواسطه سره نښتي نه وي، دوی په اسانۍ سره چپه کېدای شي، او لدې کبله د جانبي/بغلي قواو پر وړاندې باید حتما کمزوري وګڼل شي.

٥ د درنو الوتونکو کثافاتو له امله جزوي ړنګېدنه: ډېر احتمال لري چې د ودانۍ په کونجونو کې کمزورې ساختماني برخې د درنو الوتونکو کثافاتو یا د ګرندي جریان

لرونکو اوبو نه اغېزمنې شي. د دېوالونو تر منځ تماس کمزوری کېږي، نو ځکه باید تکیه ګانې بېرته په خپو ودرول شي. ځوړندو ساختماني توکو ته باید پښتي ورکړل شي.

٦ د ختو دېرې: د ختو دېرې وچېدل ځنډوي او کېدای شي روغتیا د ګواښ سره مخ کړي، ځکه چې ختې ممکن فنګس او باکتریا ته وده ورکړي. همداراز ختې ممکن د تیګو دېوالونه داغي کړي. نو ځکه دا باید ژر تر ژره لرې شي.

٧ د اوسپنیزو او فولادي بشونو پړسېدل: د اور لګېدنې په صورت کې، اوسپنیز او فولادي بشونه د پام وړ پړسوب کوي. دا پړسېدنه په شاوخوا معمارۍ کې د درزونو د پیدا کېدو لامل ګرځي چې په پایله کې یې شاید دېوالونه کاږه شي. په هغه حالت کې چې دوی د ډېر درانده بار لاندې نه وي، د یخېدو په صورت کې بېرته اصلي شکل ته راګرځي او د خپل قوت زیاته برخه بېرته لاسته راوړي.

٨ اور او سېلاب معمولا د برېښنا، اوبو او ګېس رسونې سیستومونو ته زیان رسوي، حتی که د دوی په رسونه کې کوم ځنډ او خنډ هم نه وي واقع شوی، د دې زیاته سپارښتنه کېږي چې ټول ګازي او برېښنایي وسایل بند کړل شي، ځکه کېدای شي هغوی زیانمن شوي وي، او اوبه مه استعمالوئ، ځکه چې شاید ککړې شوي وي.




## د ختو نه جوړ جوړښتونه چې د بار اوچتونکي دېوالونه ، کمانونه او گمبدې لري

**گواښ:** سېلاب، اور



١ د پلستر تخريب: دا هغه وخت پېښيږي کله چې خاورين پلستر يا ليو د اوبو سره په تماس کې وي.

٢ د ختو د دېوالونو نړېدنه: د لندبل له امله د ختې دېوال د خپل بار اوچتولو ظرفيت له لاسه ورکوي او بنايي رنگ شي. د ختو دېوالونه د وچېدو پر مهال د خپل بار اوچتونې ظرفيت بېرته ترلاسه کوي، مگر همېشني خرابوالی او درزونه ممکن پايښت ومومي او دېوالونه کمزوري کړي.

٣ د لرگيو عناصر/توکي چې د خاورې او / يا چونې پلستر ورکړی شوی وي: خاوره او چونه د اور پر وړاندې مقاومت لري. که په کافي اندازه ډبل والی/ضخامت (~٥ سانتي متره) ولري، دا ډول پلستر د لرگيو يا بوسو/خسو خاشاکو د اور د اخيستلو مخه نيسي. سربېره پر دې، څرنگه چې دوی د نفوذ وړ دي، دوی د لرگيو يا دېوال د وچېدو مخه نه نيسي.

٤ د دېوال او پلستر د انقباض له امله پيدا شوي درزونه: کله چې د خاورې او چونې د محصولاتو د اوبو کچه په چټکۍ سره بدلون ومومي، نو دوی انقباض کوي او درزونه پيدا کوي. دا حالت په لنډ وخت کې د تودوخې د درجې د سخت بدلون له کبله پېښيږي. چېرته چې د پلستر کار ارزښتناکه وي، د اور لگېدنې څخه وروسته د حرارت د درجې يخوالي ته متوجه واوسئ. په ورته ډول، د سېلاب څخه وروسته ودانۍ له حده زياتې تودوخې په واسطه مه وچوئ.

٥ د خاورې پرسوب: د خاورې حجم د هغې د اوبو د کچې سره ډېريږي. دا د ځمکې د پام وړ حرکت او د دېوالونو د اوچتېدو لامل گرځېدای شي. د وچولو وروسته شايد همېشنی زيان پر ځای پاتې شي.

٦ د دېوال تختو او د پلستر کار ته زيان: د ځمکې لندبل د دېوالونو له بېخ څخه پورته خوا ته ځي او کېدای شي هغه مالگې ولري چې د اوبو د تبخير کېدو پر مهال په کرسټالونو (دانه داره مالگه) بدليږي. دا کېدای شي سپين پوډر د دېوال پر سطحو باندې پرېږدي او ځينې وختونه د معمارۍ د عناصرو او مسالې د ماتېدو، درزونو پيدا کېدو او پوست ورکونې لامل گرځي. غير نفوذي پوښونه (چې د سرو ليکو پواسطه ښودل شوي) د لندبل پورته لوري ته د تللو لامل گرځي. که لندبل په تبخير نه بدليږي، دا ممکن د دېوال داخلی استحکام کمزوری کړي او دېوال شايد د ړنگېدو له گواښ سره مخ شي.

٧ په تکاوۍ کې ايسارې اوبه: په تکاويو کې اوبه معمولا د اوږدې مودې لپاره پاتې کيږي، او د هوا بدلوني سيستم يې کمزوری وي. دا حالت په رطوبت او لندبل پورې اړونده اوږدمهاله ستونزې پيدا کوي.




## د لرګي چوکاټ لرونکی جوړښت

**ګواښ: سېلاب، اور**

١ د لرګيو د نريو/نازکو ټوټو له مينځه تلل: د لرګيو نرۍ ټوټې چې ساختاري دندې لري، د بېلګې په توګه د چت د پوښلو لپاره حفاظتي تختې، د لرګيو فرش، يا د ودانۍ د باندې پوښلو لپاره حفاظتي تختې، د اور اخيستنې په صورت کې په اسانۍ سره سوځي.

٢ د لرګيو په چوکاټ کې درزونه پيدا کېدل: کله چې اور سوځېدنه پېښه شي، د لرګيو بشونه په سوځېدلو پيل کوي، د دوی بهرنی پوښ په سکرو بدليږي، او په سطحه کې يې څلور خانه ايز شکلونه مينځته راځي. دا د بشونو اصلي برخه د زيان څخه ژغوري. په عمومي ډول د لرګيو دوديز چوکاټونه ډېر لوی وي. له همدې امله د بش اصلي برخه، حتی که اور بشونه اغېزمن کړي هم وي، معمولا د چت د وزن اوچتولو ته دوام ورکوي. په هر صورت د بشونو د وصل نقاط د بش پرتله ګړندي سوځي، ځکه چې دوی د بش اخيري سطح (هغه برخه چې بش ختميږي) او فلزي توکي لري.

٣ د نازکو/نريو لرګيو نه د جوړو عناصرو خرابېدل: د نازکو/نريو لرګيو نه د جوړ عناصر لکه فرشونه، دروازې يا د ښکلا لپاره لګول شوې تختې، شايد د لندبل پر مهال کږې شي. دوی چې کله وچ شي، پرته له هغه حالته چې ډېر زر وچ شي، خپل اصلي شکل بايد بېرته لاسته راوړي. هغه لرګي چې په څو اونيو کې وچيږي د خرابېدو امکان يې ډېر کم دی.

٤ د لرګيو نه د جوړو فرشونو کمزوي کېدل: د لرګيو نه جوړ عناصر په هغه حالت کې د جدي کمزورۍ کېدو له ګواښ سره مخ وي، کله چې دوی د نسبتاً ډېرو ورځو لپاره د لندبل غالي او / يا ختو لاندې پاتې شي.

٥ د خاورې متراکم کېدل او لاهو کېدل: ځينې خاورې د سېلاب د اوبو له کمېدو وروسته متراکمې کيږي او د غير منظمې کښيناستنې لامل ګرځي. برسېره پردې ګړندۍ رواني اوبه کېدای شي د خاورې د لاهو کېدو لامل وګرځي او تهدابونه يا له ګواښ سره مخ کړي يا يې له منيځه يوسي. دا حالت د لرګيو چوکاټ لرونکو کورونو ته، چې بنسټونه يې زوړ يا پوره قوي نه وي، لوی زيان اړوي.

٦ د اوبو نه د راولاړې قوې له امله زړنګېدل: دا حالت کېدای شي هغه مهال رامينځته شي کله چې يوه ودانۍ په داسې زيانمن شوې ديوال ولاړه وي چې د تهدابونو سره غښتلې تړاو ونلري.

# مصونیت او باثباته کول





## د شیانو او توټو د موقعیتونو د نقشه کولو لپاره شبکې څرنګه جوړې کړو

١ د شبکې جوړولو لپاره تر هر څه د مخه د هغې ساحې، له کومې نه چې تاسې توکي یا د تاریخي ودانۍ توټې لاسته راوړل غواړئ، اندازه، شکل او د لاسرسي ورتیا په پام کې ونیسئ. د شبکې په جوړولو سره تاسو د هرې توټې دقیق موقعیت جوتولای شئ، کوم چې د بشپړې ساتنې پرمهال د اصلي موادو بیا یوځای کولو کې مرسته کوي.

٢ د هغې ساحې د اندازې په پام کې نیولو سره چې تاسې یې د ژغورلو لپاره چمتو کوئ، د ساحې د اوږدوالي او سور د اندازې په اخیستلو سره او هغه په یو اندازه مربع ګانو باندې په وېشلو سره شبکه جوړه کړئ. د یوې تاریخي معمارۍ د جوړښت د لویو توټو یا خښتو د لرې کولو لپاره، تاسې هغه ساحه چې پاکول یې غواړئ د ٥x٥ متر مربع په اندازو باندې وېشلای شئ.

٣ د زیاتو توټې توټې شوو سینګار شوو سطحو د بېرته ترلاسه کولو لپاره کوچنۍ شبکې وکاروئ (عکس وګورئ).

٤ یوه شبکه د نازکو/نریو رسیو په کارولو سره جوړېدای او د فلز یا لرګیو د موړو په کارولو سره خوندي کېدای شي. د بدیل په توګه، د رسیو د ځمکې سره د وصلولو لپاره، درندې تیګې وکاروئ. ځان ډاډه کړئ چې رسۍ په خورا څرګند ډول د لیدلو وړ وي(ترڅو پدې ډاډه شئ چې څوک پرې و نه غورځیږي).

٥ هره مربع د الفبا په تورو او اعدادو سره ونوموئ او داسې نخښې/لیبلې پرې ولګوئ چې ورپورې ونښلي او د اوبو ضد مارکرونه وکاروئ.



*د میانمار د باغان په پاګودا کې د ستوکو سینګار کوچنیو توټو د بېرته ترلاسه کولو لپاره شبکه ، ۲۰۱۶ کال. عکس: اکرام*

٦ کله چې تاسې خپلې شبکې جوړې کړې ، د هغوی موقعیت د فرش په نقشه کې په نخښه کړئ.  ځان ډاډه کړئ چې تاسو د حوالې لوری (لکه شمال) او ساحې ته د لاسرسي اصلي ځایونه په ګوته کوئ. د هرې شبکې موقعیت، نوم یې، او د خانو الفبا–عددی (الفانومریک) کوډ په ګوته کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| A1 | A2 | A3 |
| B1 | B2 | B3 |
| C1 | C2 | C3 |

*په الفا نومریک ډول د یوې شبکې د لیبل کولو د څرنګوالی یوه بېلګه*




*یو نمونه ای سکېچ چې د مختلفو شبکو موقعیت نقشه/په ګوته کوي، میانمار، ۲۰۱۶ کال. عکس: ای کریت*

په هغه صورت کې چې ساحه سېلاب ځپلې وي او یا وخت ډېر محدود وي، ساحه په لویو برخو لکه الف او ب یا ۱ او ۲ ووېشئ او هغوی د ساحې په نقشه کې د شمال یا جنوب په ذکر کولو سره په نخښه کړئ.

## په لنډمهاله ذخيره کې د ځای پرځای کولو کوډونه څرنګه جوړ کړو

په لنډمهاله ذخيره کې چې هيڅ ډول فرنيچر نلري، د موقعيت د ثابت کوډ سيستم د چمتو کولو اسانه لار په فرش باندې د رنګ، نښلېدونکو پټيو او رسيو پواسطه د شبکې رسمول دي.

د کار د پيل په توګه د فرش ساحه پداسې مربعاتو ووېشئ چې د اندازې د ټاکلو دپاره يې يو مناسب واحد استعمال کړئ لکه يو متر مربع.

د قطارونو او کالمونو تر مېنځ د توپير کولو لپاره حروف او ارقام وکاروئ. د هغوی د ثبتولو لپاره په دېوال باندې لېبلونه وکاروئ.




**له دې ادرس نه راخيستل شوی:** تېډون، اې. ۲۰۱۶. د ګواښ سره مخ کلتوري ميراث: د کلتوري ميراث د ټولګو بېړنۍ تخليه. پاريس، يونسکو او روم، اکرام.

**پدې انټرنيټي ادرس کې يې لټولی شئ:** https://perma.cc/7J4C-TJDK

## د موقعیت کوډونه او د پېژندنې شمېرې څرنګه جوړې کړو؟

د موقعیت د کوډ د جوړولو لپاره د حروفو او ارقامو ګډوله/ترکیب وکاروئ تر څو په یوه ساحه، یا خونو یا په یوه ودانۍ کې په مختلفو پوړونو کې ځایونه په ګوته کړو. د بېلګې په ډول د موقعیت کوډ به د هغې توکي لپاره چې د ملي موزیم د اول نمبر ودانۍ ، د اول پوړ د ۱۷ نمبر خونې نه تخلیه شویدی په لاندې ډول ثبت کېدای شي:

**NM1-G-17-2**

NM- ملي موزیم
1- د ودانۍ شمېره
G- لومړی پوړ
17 - د خونې شمېره
2 - د الماری شمېره

په همدی ډول، د یو توکي د موقعیت کوډ چې د ملي پارک په نوم ځای نه د لومړي نمبر شبکې د A1 برخې نه ژغورل شوی دی، په لاندې ډول ثبت کېدای شي:

**NP-1-A1**

NP- ملي پارک
1 - د شبکې شمېره
A1 - د شبکې برخه

عموما، د شمېرو جوړونو دا ډول سیستمونه د ساحې د پېژندلو نه، چیرته چې توکي موقعیت لري، د توکي د مشخص ځای په ګوته کولو پر لور حرکت کوي. چېرې چې تراو ولري د ساحې، ودانیو، پوړونو، خونو او د قضیو ننداریې ته د وړاندې کولو لپاره ارقام او حروف ځانګړي کړئ. دا اړینه ده چې داډ ترلاسه شي چې د شمېرو جوړونو سیستم ټل ثابت دی او ټول هغه کارمندان چې د تخلیې یا د ژغورنې په عملیاتو کې ونډه لري، پدې سیستم باندې پوهیږي.

## د پېژندني ځانګړې شمېره څرنګه جوړه او د موقعیت له کوډ سره يې وصل کړو؟

د يو توکي د لېږد دمخه هغه ته د پېژندني يوه ځانګړې شمېره ورکړئ، تر څو تاسو د ژغورنې يا تخليې د عملياتو پر مهال د هغه حرکت تعقيب کړای شئ. د پېژندني ځانګړې شمېره د موقعيت د کوډ سره په ګډه، د ژغورنې او تخليې د عملياتو پر مهال، د توکي او د هغه د اصلي موقعيت په پېژندلو کې مرسته کوي.

د پېژندني ځانګړې شمېره د موقعيت د کوډ سره توپير لري، ځکه دا په يو ټاکل شوي ځای کې هر يو انفرادي توکی په ګوته کوي. داډ ترلاسه کړئ چې د تخليې يا ژغورنې د موخو لپاره جوړ شوی د شمېرو جوړولو سيستم ساده ، پوشان او ټول ښکېل اړخونه وربانديې پوه وي. دا کېدای شي په ساده ډول په پورته لوري (صعودي) ترتيب کې د شمېرو يو سيستم وي (لکه: 01، 02) او يا د حروفو اوارقامو ګډوله (لکه: A01، A02) وي.

د موقعيت کوډ | د پېژندني ځانګړې شمېره

**NM1-G-17-2_01**

**NM- ملي موزيم**
**1 - د ودانۍ شمېره**
**G - لومړی پوړ**
**17 - خونه**
**2 - المارۍ**
**01- د توکي د پېژندني ځانګړې شمېره**

که چېرې توکي د شبکې څخه ژغورل شوی وي، نو د توکي د پېژندني ځانګړې شمېره د موقعيت د کوډ سره په لاندې ډول ثبت کېدای شي:

د موقعيت کوډ | د پېژندني ځانګړې شمېره

**NP-1-A1-01**

**NP- ملي پارک**
**1 - د شبکې شمېره**
**A1 - د شبکې د برخې شمېره**
**01 - د توکي د پېژندني ځانګړې شمېره**

که تاسو په يوه ساحه کې محدود وخت لرئ او د خونو او الماريو د پېژندلو لپاره مخکني اسناد موجود نه وي ، د موقعيت د کوډ جوړونه د ودانۍ په لويو برخو لکه A، B، C تقسيمولو سره ساده کړئ. دغه برخې د ودانۍ په سکېچ پلان کې ثبت کړئ. کچېرته يوه ودانۍ ګڼ پوړونه لري، د هر پوړ شمېره د يو حرف سره يوځای کړئ، لکه: A۰ د ځمکني پوړ او A۱ د لومړي پوړ لپاره، او پدې ډول نور.

## د تخلیې مستند سازي

لاندې نمونه د تخلیې لپاره د توکو د لست د چمتو کولو په موخه وکاروئ. دا به تاسو سره توکو ته په شمېرو ورکولو او لنډمهاله خوندي ذخیرې ته د هغوی د لېږد په تعقیبولو کې مرسته وکړي.

| د داخلېدو شمېره | مخکنۍ شمېره | د پېژندنې ځانګړې شمېره | د توکي ډول | مواد | اړخونه/ابعاد: اوږدوالی، پلنوالی او لوړوالی | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | |

د اعداد په صعودي ډول ترتیب کې، د ۱ نه په پیل سره تر اخیري لېږدول شوي توکي پورې، دا تول تخلیه شوي توکي په ګوته کوي

دا برخه توکي ته د تخلیې پر مهال ورکړل شوي د پېژندنې ځانګړې شمېره ثبتوي

د توکي ډول: دا برخه د توکي په اړوند د لنډې تشریح لپاره وکاروئ، د بېلګې په ډول سینګار شوې د لاسي خط نسخه، مجسمه، ګلدان، او داسې نور

توکي له څه شي نه جوړ شوي دي، د بېلګې په ډول لکه: شیشه، کاشي، فلز، توکر، او داسې نور

| | وزن | د اصلي موقعیت کوډ | د عکس یا د فرش پلان د حوالي شمېره | نوی موقعیت | د عکس یا د فرش پلان د حوالي شمېره |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | |

د توکي د اصلي موقعیت کوډ لست کړئ

دا برخه باید هغه وخت ډکه شي، کله چې تخلیه بشپړه شي او ټول توکي د هغوی نوي خوندي ځای ته ولېږدول شي

ټول عکسونه او د فرش پلانونه باید د حوالي شمېرې ولري

د توکي وزن یادداشت کړئ. کچېرته تله شتون ونلري، نخښې لکه + د وزن د ښودلو لپاره وکاروئ. د بېلګې په ډول، کچېرې یو توکی د یو کس پواسطه سمبالېدای او لېږدول کېدای شي، د + نخښه وکاروئ؛ په ورته ډول، که د لېږد لپاره یې دوه کسانو ته اړتیا وي، د ++ نخښه وکاروئ او په هغه صورت کې چې د توکي د اوچتولو او لېږد لپاره ځانګړو وسایلو ته اړتیا وي، د +++ نخښه وکاروئ

## د ژغورنې مستند سازي

لاندې ورکړل شوې فورمه، د ژغورل شوو توکو د اصلي موقعيت، د پېژندنې د ځانګړو شمېرو، د هغوی د حالت ، د هغوی د باثباته کولو لپاره کارول شوې لارې چارې ، او د هغوی د اخيري ځای پر ځای کونې کوډ په ثبتولو کې مرسته کوي.

۱ بېرته لاسته راوړل

| د داخلېدو شمېره | اصلي موقعيت | د پېژندنې ځانګړې شمېره | مخکنۍ شمېرې |
|---|---|---|---|
| | | | |

د اعداوو په صعودي دوډ ترتيب کې، د لومړي نه تر اخيري لېږدول شوي توکي پورې، ادا توي ژغورل شوي توکي په ګوته کوي

ادا برخه د توکي لپاره ټاکل شوي د پېژندنې ځانګړې شمېره په ګوته کوي

الف۲ پدې معيار بېلول چې د کوم يو مرمت اول وشي او باثباته کول

| کالا / موسسه | د اصلي موقعيت کوډ | د توکي دوډ | مواد | ابعاد: اوږدوالی، سور، لوړوالی |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |

ادا برخه د ژغورل شوي توکي د اصلي موقعيت کوډ په ګوته کوي. د هغه سيستم په پام کې نيولو سره چې د موقعيت د کوډونو د ورکولو لپاره کارول شوی وي، د اصلي موقعيت کوډ شايد د شبکې شمېرې ته اشاره ولري/حواله ورکړي يا د الماری، خونې او د پوړ/منزل د شمېرو ترکيب/ګډولې ته اشاره ولري/حواله ورکړي

(د توکي دوډ) برخه، د توکي په لنډ دوډ د تشريح لپاره کارول کيږي

توکی له څه شي نه جوړ شوي دي، لکه. شيشه، سراميک، فلز، توکر، او داسې نور

۲ب پدي معيار بېلول چې د کوم يو مرمت اول وشي او باثباته کول

| وزن | د عکس يا د رسم د حوالې شمېره | د زيان ډول | ورکړې شوې درملنه (د باثباته کولو پروسې پر مهال بايد ډکه شي) | د باثباته کولو درملنې ترکوونکی |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| | | | | |

وزن: پدي برخه کې د توکي وزن وليکئ. کچېرې تله شتون ونلري، نخښې وکاروئ، د بېلګې په ډول + نخښه ادا په ګوته کوي چې يو کس توکي لېږدولی شي، ++ نخښه کله چې د لېږد لپاره دوه کسانو ته اړتيا وي، او کله چې د لېږد لپاره د يو نه زياتو کسانو او خانګړو وسايلو ته اړتيا وي، د +++ نخښه وکاروئ

د عکس يا د رسم د حوالې شمېره: د توکي عکس/رسم ته اشاره کوي. که په (د عکس يا رسم د حوالې شمېره) ساحه کې د بېل بېل توکي د عکس د اخيستلو لپاره پوره وخت نه وي، نو د هغوی د پېژندنې د شمېرو په ګډون د توکو ډله ايز عکسونه واخلئ . د هر عکس شمېره ثبت کړئ. د وخت شتون ته په کتلو سره، دا برخه د بېلابېلونې په پړاو کې يا د لنډمهالې ذخيرې په ساحه کې ډکېدای شي

د زيان ډول: د توکي فزيکي (د زيان ډول) حالت او د اووختي زيان ډول او کچه په ګوته کوي

ورکړې شوې درملنه: دا برخه د توکي د ثبات لپاره تر سره شوې درملنه په ګوته کوي. د بېلګې په ډول يو لوند او په خټو ککړ توکي، شايد نوې لنډمهاله ذخيرې ته د لېږد دمخه، اوبو تېروني/ابکش کولو ته اړتيا ولري. دا ډول درملنې بايد د ساتونکو او روزل شوو کلتوري لومړنيو مرستندويانو لخوا تر سره شي

۳ بسته بندي يې کړئ او موقعيت يې بدل کړئ

| د لېږد کوډ | نېټه | لېږد لخواء ترسره شويدی |
| --- | --- | --- |
| | | |

لېږد لخواء ترسره شويدی: دا برخه لنډمهالې ذخيرې تـه د يـو توکي لېږد پـه ګوتـه کـوي. دا برخـه د تولـو توکـو د لېـږد څخـه وروسته بايد ډکه شي

## د کلتوري میراث د توکو د سمبالولو لپاره لارښود

١ د هغو توکو د سمبالوني لپاره چې ګرد یې اخیستی وي او یا ککړ شوي وي، پلاستیکي یا ربړي دستکشې وکاروئ. داړ ترلاسه کړئ چې ستاسو د دستکشو اندازه سمه ده او ستاسې په لاسونو کې راځي، که نه نو ستاسې د لاسونو نه شاید توکی په ناځاپي ډول وغورځیږي یا توکي ته زیان ورسیږي.

٢ کله چې دستکشې زیاتې چټلې شي، بدلې یې کړئ، تر څو توکو ته د ککړتیا د لیږد مخه ونیول شي.

٣ د ګردجنو یا چټلو توکو د سمبالوني پر مهال د ګرد ضد ماسک واغوندئ.

٤ زیورات او لوازم چې شاید ونښلي یا توکي خط خط کړي، لرې کړئ.

٥ مخکې له دې چې توکي له یو ځای څخه بل ځای ته ولیږدوئ، یوه سمه لاره جوته او داړ ترلاسه کړئ چې هیڅ ډول خنډ سره مخ نشئ.

٦ د یو شي د نیولو لپاره تل دواړه لاسونه وکاروئ. د دې لپاره چې داړ ترلاسه شي چې د توکي وزن توازن له لاسه ورنکړي، یو لاس د توکي لاندې کیږدئ او بل لاس د توکي د بدن د ملاتړ لپاره وکاروئ.

٧ توکي د هغوی د لاستو، خولو یا نورو نازکو او ماتېدونکو برخو نه په نیولو سره مه لیږدوئ.

٨ د پیښو د مخنیوي لپاره یا د توکو د ماتېدو د مخنیوي لپاره، په یو وخت کې ډېر توکي مه وړئ.

٩ د امکان په صورت کې، د توکو د لیږدولو لپاره کانتینرونه، بکسونه یا پتنوسونه وکاروئ. په لیري واټن کې د شیانو د لیږدولو لپاره، که شتون ولري ، د کراچۍ څخه کار واخلئ.

١٠ د درنو یا لویو شیانو لپاره لږترلږه دوه کسانو ته اړتیا ده چې توکي په خوندي ډول انتقال کړي.

**سرچینه: تندن، ای. ٢٠١٦. د ګواښ سره مخ کلتوري میراث: د کلتوري میراثونو د تولګو بېړنی تخلیه. پاریس، یونسکو او روم، اکرام.**
**پدې انټرنیټي پته کې یې موندلی شئ:** https://perma.cc/7J4C-TJDK

**د کلتوري میراث د تولګو شورا. ١٩٩٨ف. د استرالیا په لر او بر کی د توکو د جمع کولو لپاره د هغوی وړل، د هغوی سمبالول او د هغوی لیږد.**
**پدې انټرنیټي پته کې یې موندلی شئ:** https://perma.cc/5XRJ-U9R3

## د کلتوري میراث د توکو د بسته بندۍ لپاره لارښود

١ ناسمه بسته بندي کولی شي کلتوري توکو ته همیشنی فزیکی زیان واړوي ، ځکه چې دوی د عمر یا پخوانی کارونې له امله معمولا نازک وي. له دې کبله، دا مهمه ده چې د بېړنۍ تخلیې لپاره د دا ډول توکو د بسته بندي کولو پر مهال لاندې ټکي په پام کې ونیسئ:




د

نیپال په ملي موزیم کې په لنډمهاله ذخیره کې د ځای پر ځای کولو لپاره بسته بندي شوي توکي، کټمنډو، ۲۰۱۶ کال. عکس: ایرنا تندن، د اکرام موسسه

- د بسته بندۍ لپاره چې کوم مواد کارول کیږي باید داسې وي چې د کلتوري میراث د توکي سطحه خوندي، او د جټکې، لړزې، ګرد او نورو ککړتیاوو او په بیروني چاپیریال کې د ناڅاپي بدلونونو پر وړاندې د هغوی د زیانمنې کچه راټیټه کړي.
- د دې لپاره چې پر توکو د فشار د واریدېدو یا د هغوی د خرابېدو مخنیوی وشي، د بسته بندي کولو لپاره کارول شوي مواد باید د توکي د شکل او اندازې سره مطابقت ولري.
- بسته بندي باید داسې وي چې توکې په کڅوړه کې په اسانۍ سره وپېژندل شي. دا به د هغې د سمبالولو د وخت په کمولو کې مرسته وکړي.

٢ د بسته بندۍ د سمو موادو غوره کولو لپاره، دا اړینه ده چې هغه توکي چې باید بسته بندي شي، د جوړښت مواد یې وپېژندل شي. د بېلګې په ډول، کله چې کاغذي یا تیکه ای توکي بسته بندي کوئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی په داسې صندوقونو کې ځای پرځای نکړئ چې ممکن تیزابي بخارونه خوشې کړي (د بېلګې په توګه هر څه چې د تازه لرګیو یا د لرګیو د تختو/پلائیووډ څخه جوړ شوي وي)

٣ د توکي سره د مستقیم تماس د درلودلو لپاره د موجودو موادو څخه، د لوړ کیفیت مواد غوره کړئ. په عمومي ډول، نرم نخي (هغه چې د شخوونکو موادو په استعمال سره شخ شوي نه وي) توکر یا بې رنګه ململ په خوندي توګه د ډېری عضوي او غیر عضوي موادو د پوښلو لپاره کارول کېدای شي.

٤ د بسته بندۍ لپاره د موادو د راټولولو پر مهال، هڅه وکړئ داسې مواد غوره کړئ چې تاسو یې د بیلا بیلو موخو لپاره کارولی شئ. دا به د لګښتونو په کمولو کې مرسته وکړي او د سرچینو اغیزناکه کارونه به ډاډمنه کړي.

۵ د شیانو د بسته بندي کولو لپاره، هغه بکسونه غوره کړئ چې سرپوښونه ولري او د نورو بکسونو د لاندي کېښودلو لپاره پوره مضبوط وي.

۶ که تاسو داسې بکس یا کانتینر کاروئ چې پخوا کارول شوی وي، ډاډ ترلاسه کړئ چې دننه یې کې هیڅ ډول ککړونکي شیان لکه د سبزیجاتو پاتې شوني، حشرات یا کیمیاوي توکي نه وي.



*د لرګیو یو بکس چې په بې نشایستې او بې رنګه نخي توکر پوښل شوی ترڅو په ململ کې پوښل شوي توکرونو لپاره د ساتنې خوندي چاپیریال چمتو کړي، نیپال، ۲۰۱۶ کال. عکس: اپرنا ټنډن، د اکرام موسسه.*

۷ د ورته موادو څخه جوړ شوي توکي یوځای بسته بندي کړئ. او د توکو د خپلمنځي تماس د مخنیوي لپاره جدا کوونکي یا نرم حایل مواد وکاروئ.

۸ په یو بکس یا کریټ کې سپک او درانه توکي یو ځای مه بندوئ، ځکه چې درانده توکي شاید په سپکو توکو راوغورځیږي او په هغوی فشار راوړي یا هغوی مات کړي.

۹ کله چې تاسو توکي په یو کریټ یا یو بکس کې ځای پر ځای کړل، د هغوی تر منځ خالي ځایونه د حایل په توګه په نرمو موادو سره ډک کړئ ترڅو د توکو د بې ځایه کېدو مخه ونیسي. او هغوی له جټکو خوندي وساتي.

۱۰ د ارزښتناکو اسنادو، د کاغذي یا کرباسي هنري اثارو، د بسته بندي کولو لپاره اوار بکسونه وکاروئ. د بدیل په ډول، توکي په ښه کیفیت لرونکي کاغذ کې ونغاړئ، لکه د پنبې له توټو څخه جوړ شوی کاغذ، او بیا یې د دوو سختو حایلونو ترمینځ ځای پر ځای کړئ.



*یونیفارم او نورې جامې په کلکه ملاتړې سطحه اوار اېښودل شوي، نیپال، ۲۰۱۶ کال*
*عکس: اپرنا تندن، د اکرام موسس*

۱۱ د ډېرو کاغذي هنري توکو د بسته بندۍ لپاره، د ښه کیفیت سپین کاغذ د یو توکي نه د بل د جلا کولو لپاره وکاروئ. دا کار به د یو توکي نه بل توکي ته د رنګ د خپرېدو د ګواښ په کمولو کې مرسته وکړي.

۱۲ د کتاب د شکل او جوړښت د ساتلو لپاره، هغه د ښه کیفیت کاغذ کې ونغاړئ، او بیا یې په یو صندوق کې پداسې ډول کښېږدئ چې د کتاب هغه برخه چې پاڼې د یو بل سره وصل کوي د صندوق د بېخ په لوري وي.

۱۳ د لوی بې چوکاټه کاغذي یا تیکه ای هنري اثر د بسته بندۍ لپاره، د عکس لپاره ارشیفي نل وکاروئ، هنري اثر د نل په شاوخوا راتاو کړئ. په پای کې لوله په ململ یا د ښه کیفیت لاسي جوړ کاغذ کې ونغاړئ. که ارشیفي نل نه وي ، د لرګي نه جوړ ډبل نل وکاروئ او د هنري اثر د تاوولو دمخه د نل نه ململ یا د ښه کیفیت کاغذ تاو کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې د نل قطر لوی وي، ځکه دا به د کوت کېدو له امله هنري اثر ته د زیان اوختنې ګواښ را کم کړي.

۱٤ نازک/ماتېدونکي توکي لکه د ختو، شیشې یا سرامیکو نه جوړ توکي په یو لوی صندوق/کانتینر کې د ځای پر ځای کولو دمخه په جلا جلا پلاستیکي کڅوړو کې بسته بندي کړئ. د نورو توکو سره د تماس او د سولېدو له کبله د زیان اووختنې د مخنیوي لپاره نرم حایل یا بېلوونکي مواد وکاروئ.

۱۵ د بېړنیو شرایطو لاندې د سمې بسته بندۍ ډاډ ترلاسه کولو لپاره ، د ډله ایز قطار په توګه کار وکړئ. یو کس د نغښتلو لپاره وټاکئ، بل کس چې کانتینر/صندوق چمتو کړي، او بل کس چې په توکي د پېژندنې د ځانګړې شمېرې نخښه/لیبل ولګوي او په کانتینر/صندوق کې یې ځای پر ځای کړي.

١٦ ډاډ ترلاسه کړئ چې ټول بکسونه داسې لیبل لري چې د دننه موجودو توکو تعداد او ډول په ګوته کوي.

١٧ د دې لپاره چې د کلتوري میراث د توکو لرونکي بکسونه په سمه توګه سمبال شي ، په دوی باندې په عام ډول کارېدونکي نخښې ولګوئ: 'نازک'، 'پورته / لاندې'، 'په احتیاط سره یې سمبال کړئ، 'دا لوری پورته' او 'وچ یې وساتئ».




**سرچینه: ټېدن، ای. ۲۰۱۶ کال. د ګواښ سره مخ کلتوري میراث: د کلتوري توکو بېړنۍ تخلیه. پاریس او روم، یونیسکو او اکرام.**
**پدې انټرنیټي پته کې یې لټولی شئ: https://perma.cc/7J4C-TJDK**

## عضوي (ارګانیک) او غیرعضوي (ارګانیک) مواد

مواد په دوو، عضوي یا غیر عضوي، ډولونو کې طبقه بندي کیږي. عضوي مواد د حیواناتو او نباتاتو د ژوند کولو د پروسې پواسطه مینځته راځي. او غیر عضوي مواد هغه دي چې عموما د ژوند کولو د پروسې پواسطه مینځته ندي راغلي. په بل عبارت، هغه مواد چې د څارویو او نباتاتو نه سرچینه اخلي عضوي، او هغه چې د معدنیاتو نه سرچینه اخلي غیرعضوي دي. په استثنايي ډولونو کې پوښونه (د نرمو حیواناتو سخت پوښونه) او د غاښونو سخت سپین پوښ شامل دي.

**په عضوي موادو کی دا شیان شامل دی:**

پوستکي، څرمن ، وینښته، وریښم، ښکر او غاښ، هغه سخت پوښونه چې د ځینو حیواناتو په شاګانو باندې وي او هډوکي، چې دا ټول د حیواناتو د ژوند نه سرچینه اخلي؛ لرګي، د لرګیو بافت (نیلون، له پنبې جوړ نخي ټوکر) کاغذ او ربړ، کوم چې د نباتاتو د ژوند څخه سرچینه اخلي. پلاستیک په عمومي ډول له عضوي مواد له ډلې ګڼل کیږي.

پلاستیک له داسې موادو نه جوړیږي چې اصل یې د دواړو نباتاتو او حیواناتو د ژوند نه سرچینه اخلي.

عضوي مواد ټولې لاندینۍ ځانګړتیاوې لري:

- د هغوی کیمیاوي ترکیب د کاربن په ځنځیرونو ولاړ دی.
- که حرارت ورکړل شي، دوی د خوني د حرارت په درجه کې سوځي.
- دوی د رڼا پر وړاندې حساس دي.
- ډیر واړه ژوي او حشرات پرې برید کوي.
- دوی د اوبو بخارات د فضاء سره تبادله کوي (جذبول او خوشې کول).

**په غیر عضوي موادو کی دا لاندی شیان شامل دی:**

فلزات، ډبرې ، شیشه، سرامیک (کاشي)، پوښ (پوښ یوه غیر عضوي ماده ده، که څه هم دا د ژوند کولو د پروسې پواسطه مینځته راځي).

غیر عضوي مواد ټولې لاندینۍ ځانګړتیاوې لري::

- دوی د کاربن د ځنځیري سلسلې نه ندي جوړ شوي.
- دوی د خونې نورمالې حرارت درجه کې نه سوځي.
- دوی عموما د رڼا پر وړاندې حساس ندي.
- حشرات پرې برید نکوی.
- دوی د کوچنیو ژویو مناسبه غذا نده.

عموما، عضوي مواد د تماس پر مهال ګرم وي، د غیر عضوي موادو پرتله ډېر نازک او غلظت یې کم وي، پداسې حال کې چې غیر عضوي مواد سخت او د نرمښت نه درلودلو له کبله په اسانۍ سره درزونه پیدا کوي/ماتیږي. زموږ هر یو د موادو په پېژندلو کې، د موادو سره د ورځني سروکار له امله، د ډېرو کلونو پراخه تجربه لري. د یو توکي د دقیقي معاینې او سمبالونې پواسطه، موږ معمولا کولای شو چې هغه بنسټیز مواد وپېژنو چې توکی ترې جوړ شوي دي. ټول مواد د کوایفو یو ځانګړی ترکیب لری چې مونږ یې پېژنو، لکه رنګ، ځلا، سختوالی (یا نرمي/انعطاف)، بافت/جوړښت، بوي او وزن.

سرچینه: مکورډ، ایم. او سټون، ټي. ۲۰۰۲. د ټولګو خرابېدل. دوهم نسل: د پوهنې او ملاتړ مواد. د اکرام موسسې غیر نشر شوي مواد، روم

د کاناډا د اثارو د ساتنې انستیتیوت ۲۰۱۷ کال. توکو او ټولګو ته پاملرنه. اټاوا، د ټولګټو او حکومتي چارو وزیر.

**پدې انترنیتي پته کې یې موندلی شئ: https://perma.cc/ZDG8-Y4UU**

## په هغه صورت کې چې د کلتوري میراث د توکو ارزښت معلوم نه وي او مخکني اسناد موجود نه وي ، څرنګه د دوی لومړیتوبونه جوتولای شو او څرنګه یې پدې معیار بېلولی شو چې د کوم یو چاره باید اول وشي

کله چې د شته اسنادو له مخې د یو کلتوري میراث د توکي ارزښت نشي معلومیدای ، نو دا اړینه ده چې د تخلیې، باثباته کولو، ذخیره کولو، خوندیتوب، او په اغېزمنه توګه د راتلونکي مرمت لپاره د لومړیتوبونو د تعینولو معیارونه رامینځته کړئ.

د دې کار لپاره لاندې ټکي په پام کې ونیسئ:

- **ځایي ټولنې ته د کلتوري میراث ارزښت څه دی؟** د اغیزمنو شوو کلتوري میراثونو د محافظینو او ساتونکو سره په مشوره هڅه وکړئ چې د ارزیابۍ د معیارونو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړئ، لکه: د توکي عمر څومره دی؟ د ټولنې په حافظې کې د هغې یاد ښځکه دی؟ او یا د اړوندې ټولنې په ټولیز هویت باندې د هغوی سیوری څومره دی؟ او څومره ارزښت ورته لري؟
- **کلتوري میراث ته د اوختي زیان ډول او شدت څه دی ؟** د بېلګې په ډول، د لندو او مات شوو توکو پرته وچو او سالمو توکو ته لومړیتوب ورکړئ. سالم توکي د ټولو نه لومړی بسته بندي او ځای پر ځای کړئ.
- **توکي له څه شي څخه جوړ شوي دي؟** لکه هغه توکو ته چې د عضوي موادو څخه جوړ شوي وي (کاغذ، توکر، لرګي، د خارویو پیداوار لکه هډوکي) باید د هغه توکو پرتله چې د غیر عضوي موادو څخه جوړ شوي وي، لومړیتوب ورکړل شي. د غیر عضوي موادو لکه ډبرو، سیرامیکو او فلزاتو نه د جوړ شوو توکو د مرمت په صورت کې د هغوی د نور زیانمن کېدو احتمال کم دی.
- **متوجه ګواښونه کوم دي؟** کچېرې یو توکی د خپل لیدلي زیان په اوسني حالت کې پاتې شي، نو توکي ته د لا زیات زیان د اوختنې ګواښونه څه دي؟ ایا زیان به زیات شي که چېرې په وخت مرمت یې ونشي؟
- **د توکي جسامت او وزن څومره دی؟** تاسو ممکن پوره وخت یا سرچینې ونه لرئ چې لوی او خورا درانده توکي ولېږدوئ، د بېلګې په ډول بېځایه شوي موزایک، یا د دېوال په اندازه چوکاټ شوي روغني نقاشۍ، نو پدې صورت کې سپک او د لېږد وړ توکي ولېږدوئ، او درانده یا لوی توکي په خپل اصلي موقعیت کې خوندي کړئ.

ون بالین، ک. ۲۰۰۸. د نارا شبکه: د رښیتنولۍ په تړاو د نارا په سند مبني د ارزیابۍ طرح، ای پي تي راپور ۳۹ (۲/۳):-۳۹ ۴۵
**پدې انترنیتي پته کې یی لیدلی شئ:** https://perma.cc/DL8A-E32V

رسل، ار او ونکورت، کی. ۲۰۰۹. ارزښت ۲.۰: د ټولګو د ارزښت د ارزونې لارښود. کانبرا، د استرالیا د ټولګو شوراء لمیټډ.
**پدې انترنیتي پته کې یی لیدلی شئ:** https://perma.cc/GJ8G-ERAN

د استرالیا د تاریخي یادګارونو او ساحو نړیواله شورا (ایکوموس). ۲۰۱۳.
د بورا منشور: د کلتوري ارزښت ځایونو لپاره د استرالیا د ایکوموس منشور. بورووډ، ایکوموس.
**پدې انترنیتي پته کې یی لیدلی شئ:** https://perma.cc/ULL9-UY9U

## د منقول زیانمن شوي کلتوري میراث باثباته کول

### د وچې سطحې پاکول

### د وچې سطحې  پاکول څه وخت مناسب دي؟

- د وچې سطحې پاکول هغه وخت مناسب دي کله چې په کافي اندازه چټلي یا ګرد جمع شوی وي او که چېرې پاک نشي پخپله توکي ته، یا د هغه په شاوخوا کی موجودو نورو توکو ته زیان رسوي.
- توکي باید یا په ساختاري ډول سالم  وي او یا یې په بنه توګه ساتنه شوې وي. هغه توکي یا ټوټې شوي ساختماني عناصر چې نازک یا  ماتېدونکي وي، مه پاکوئ. که تاسو اندېښنه لرئ چې یو توکی به د پاکولو پر مهال مات شي، مه یې پاکوئ.
- د ارایشي توکو/عناصرو نازکوالی یا د ماتېدنې وړتیا په پام کې ونیسئ، لکه زینتي نقاشي، د طلا په اوبو تیار شوي توکي او نور. که د دې احتمال وي چې د پاکولو په اوږدو کې به د هغوی اصلي مواد له منځه ولاړ شي، نو پدې یو ځل بیا فکر وکړئ چې پاکول یې اړین دي که نه.
- د لرغونو توکو د پاکولو پر مهال محتاط اوسئ. د لرغونو اثارو په سطحې ، یا د توکي په دننه کې شاید یوه تشکیل شوې  طبقه یا چټلي موجوده وي  چې  ساینسي ارزښت لري. د دې لپاره چې ډاډه شئ  چې تاسو ارزښتناک ساینسي معلومات له مینځه یو نه سئ، د اړتیا نه زیات پاکولو نه د مخینوي په موخه، د اثارو د محافظ یا لرغونپوه نه مرسته وغواړئ. کچېرې داسې تخصص ته لاسرسی نلرئ، یوازې د توکي له بهره سرسري چټلي پاکه کړئ او دننه/داخلي برخه یې هیڅکله هم مه پاکوئ.



*د نرم برش سره د رنګ شوي بکس د وچې سطحې پاکول، هایتي، ۲۰۱۰ کال عکس: ایرنا تېدن، د اکرام موسسه*

**وچې سطحې څرنګه پاکې کړو؟**

١ د سطحې د سرسري چټلی ، یا زیاتې دوړې لپاره، یو نرم برش یا ګرد راښکونکې جارو (برقي جارو) د ککړتیاو د لرې کولو لپاره وکاروئ. ککړتیاوې لکه دوړې، سکاره، چټلي او د سرسري کثافاتو ډېری د نرمو تارونو/وېښتو د برش او سپنجونو په کارولو سره لرې کېدای شي. که تاسې نه پارچاوېدونکې برېښنا، او د لوړ موثریت د شیانو د جذبولو فلتر والا برقي جارو ته لاسرسی لرئ، نو دا د سطحې د سرسري فنګس او د چسپېدلو ککړتیاو د لرې کولو لپاره کارولی شئ.

٢ کچېرې د برقي جارو څخه کار اخلئ، نو د جارو اخرنی برخه/ خوله په نازکه جالۍ یا ګاز باندې وپوښئ، تر څو تاسو د هوا په فشار پوره کنترول ولرئ او په ناخاپي توګه د توکي کومه برخه راکش نکړئ. کچېرې د کوم دوه بعدي توکي څخه چټلي جارو کوئ ، نو جارو په احتیاط سره د توکي له پاسه داسی ونیسئ چې توکی لمس نکړي او په نرمۍ سره د برش پواسطه چټلي د جارو د خولې په لور وکوچوئ.

٣ د سکرو/تورکي یا نورو نازکو ذراتو د پاکولو لپاره هغه سپنج وکاروئ چې د لوګي سپنج ورته ویل کیږي. د فلزي توکو پاکولو لپاره هیڅکله هم سپنج مه کاروئ. پرځای یې برش یا ګاز وکاروئ.

٤ د درې بعدي توکي د سطحې پاکولو لپاره، د برش یا سپنج کارولو دمخه، توکی ښه مضبوط ونیسئ. که چېرې توکی لوی، دروند یا د نیولو لپاره مناسب نه وي، له یو چا څخه یې په نیولو کې مرسته وغواړئ.

٥ د دوه بعدي توکي (لکه د کاغذ پر مخ باندې هنري اثر یا په کرباس باندې سر ته رسیدلی نقاشی) د سطحې د پاکولو لپاره، توکی په هغه پاکه، اواره سطحه چې په ترپال یا پلاستیک سره پوښل شوې وي، کیږدئ. د یو ملګري نه وغواړئ چې توکی په ورته وخت کې د کونجونو په پاسنۍ او لاندینۍ برخو کې ونیسي، او په ډېره نرمۍ سره توکی د دوړو او ککړتیاوو څخه پاک کړئ.

٦ د ککړتیاو د لرې کولو پر مهال، ډېر پام وکړئ ترڅو ډاډه شئ چې تاسو د توکي سطحه نه خراش کوئ. د چټلیو د پاکولو پر مهال، د سولېدلو نه د مخنیوي لپاره، ، ډېر فشار مه واردوئ، او یوازې یو لوري ته یی برش کړئ.

٧ کله چې سپنج، د توکي د سطحې څخه د نازکو ککړتیاوو، لکه سکرو/تورکي د پاکولو لپاره کاروئ، توکی په سپنج باندې مه سولوئ. د توکي په اغیزمنه شوي برخه باندې سپنج په نرمۍ سره وچسپوئ، ترڅو ککړتیا پورته کړي. کله چې د سپنج سطح ډیره چټله شي، چټله برخه یې په قیچي سره پرې کړئ، او په پاکې برخې سره یې پاکولو ته دوام ورکړئ.

د استرالیا د جګړې یادګار، این.ډي. د ساتنې توصیه: د لوګي/تورکي/سکرو پواسطه د زیانمن شوو توکو پاکول. کانبرا، د استرالیا د جګړې یادګار.
**پدې انټرنیټي پته یې موندلی شئ:** https://perma.cc/Q38H-G6KT

د کاناډا د ساتنې/محافظت موسسه/انستیتیوت. ۲۰۱۷ کال. د توکو او ټولګو لپاره پاملرنه. اوټاوا، د ټولګټو او حکومتي چارو وزیر.
**پدې انټرنیټي پته یې موندلی شئ:** https://perma.cc/ZDG8-Y4UU

سرچینه: د کلتوري میراث د ټولګو شورا. ۱۹۹۸د. بېرته راټولونې، په سراسر استرالیا کې د ټولګو مراقبت – د ټولګو مدیریت. کینبرا، د کلتوري میراث د ټولګو شورا.
**پدې انټرنیټي پته یې موندلی شئ:** https://perma.cc/5NAY-J562

سکاټ، ایم. ۲۰۰۳. ځنګلي اورونه... د خپلو قیمتي توکو ساتنه وکړئ. ملبورن، د ملبورن پوهنتون.
**پدې انټرنیټي پته یې موندلی شئ:** https://perma.cc/8KVN-5YJQ

### د لندې سطحې پاکونه

**د لندې سطحې پاکول کله مناسب دي او څه ته اړتیا لیدل کیږي؟**

١ پاکول باید یوازې په هغو توکو ترسره شي چې دمخه لانده وي او د درنو شیانو سره ککړ شوي وي ، لکه ختې.

٢ پاکول باید د مسلکي محافظینو یا د تجربه لرونکو کلتوري لومړنیو مرستندویانو تر څارنې لاندې تر سره شي.

٣ ځان ډاډه کړئ چې تاسو د لندو توکو د وچولو لپاره دویمي حفاظتي مواد لرئ.

٤ تاسو باید د پاکو، او روانو اوبو منبع ته لاسرسی ولرئ.

٥ ځان ډاډه کړئ چې تاسو د ناپاکو اوبو د کارولو او لرې کولو لپاره پراخه ځای لرئ. ادا ساحه د وچولو کارځایونو څخه جلا وساتئ ترڅو نور توکي ککړ نشي.

### لانده توکي څرنګه پاکولای شو؟

- **داسې پتنوسونه په یوه لیکه کې کیږدئ چې اوار او کم عمقه/ژور وي** او د پاکو اوبو نه یې ډک کړئ. د پتنوسونو شمېر چې تاسو ورته اړتیا لرئ پدې پورې اړه لري چې هغه توکي چې پاکولو ته اړتیا لري تعداد یې څومره دی او څومره چټل دي. په توکو باندې د اوبو تېرولو لپاره تاسې لږ تر لږه باید درې پتنوسونه ولرئ. که توکي ډېر چټل وي نو تاسو به د ګنو اوبو تېرولو لپاره زیاتو پتنوسونو ته اړتیا ولرئ.

- د کاغذ، عکسونو او د ټوکر د ورو او اوارو ټوټو نه د جوړ لوند توکي ساتنه د یو داسې شي پواسطه وکړئ چې اوبه نه جذبوي، لکه د سخت پلاستیک نه جوړه تخته او یا د پولستر جالۍ. ځان ډاډه کړئ چې ستاسو لاندینۍ حفاظتي وسیله د توکي پرتله یو څه لویه وي.
- په ارامۍ سره توکی په لومړي پتنوس کې کېږدئ. په خپلو لاسونو سره اوبه وخړپوئ او په ارامۍ سره ختې او نور راغونډ شوي شیان لرې کړئ. د چټلۍ لرې کولو لپاره برش یا نور وسایل مه کاروئ.
- توکی له لومړي پتنوس څخه لرې کړئ او د پاکو اوبو دوهم پتنوس ته یې ولېږدوئ. د اوبو تېرولو پروسه تکرار کړئ او دریم پتنوس ته ولاړ شئ. پروسې ته تر اخیري پتنوس ته تر رسېدو او په بشپړه توګه د ختو تر لرې کېدو پورې دوام ورکړئ.

**د عکاسۍ د موادو لپاره**

د پورته میتودولوژي په کارولو سره عکسونه او د عکاسۍ فلمونه وینځل کېدای او په هوا کې وچېدای شي. لیکن، عکسونه باید د خارنې لاندې ووینځل شي، ځکه چې د عکسونو ځینې ډولونه ممکن د سمبالونې ځانګړو لارو چارو ته اړتیا ولري.



*په پتنوسونو کې د وینځلو لپاره د پولستر په تختو سره حمایه شوي لانده عکسونه چې سطحه یې په ختو ککړه ده، ، ایتالیا، ۲۰۱۷ کال. عکس: د اکرام موسسه.*

**د کتابونو لپاره**

یو لوند، تړل شوی کتاب چې په باندینۍ برخه یې په ختو ککړه ده ، باید د مینځلو پرمهال بند وساتل شي. د اضافي اوبو د ایستلو لپاره د لاس فشار وکاروئ. کتاب مه خلاصوئ، او د فشار د واردولو پر مهال ډېر زور مه ورکوئ

**د توکر لیاره**

د اضافي اوبو د لرې کولو لپاره توکرونه مه ذبېځئ او مه يې قات  کوئ. د اوبو د جذبولو لپاره پېر/ډبل سپنجونه وکاروئ. سپنج په لوند توکر باندې کېږدئ او په نرمۍ سره فشار ورکړئ ترڅو اوبه جذب کړي. کله چې سپنج ډک شي، لرې يې کړئ او د چټلو اوبو د لرې کولو لپاره يې په يو سطل کې وذبېځئ، او د بیا کاروني دمخه پرې اوبه تېرې کړئ.

**د لويو توکو لپاره (دوه کسانو ته اړتيا لري)**

کچېرې يو توکی په پټنوس کې د کېښودلو لپاره ډېر لوی يا ډېر دروند وي، د امکان په صورت کې يې  د روانو اوبو  ذخيرې ته  نږدې کېږدئ. يو کس توکی نيولای شي ، پداسې حال کې چې بل کس د اوبو په نرمې داري سره توکی وينځلای شي. کچېرې پايپ نه وي،  سپنجونه په پاکو اوبو کې ډوب کړئ او بیا يې په توکي باندې وذبېځئ، يا د کوچنيو لوښو په کارولو سره د توکي په سطحه باندې اوبه واړوئ. کله چې توکی پاک شي، بیا يې په خفيف ډول  په سپنجونو يا جاذب توکر سره وچ کړئ.

د کورني امنيت وزارت د بېړني حالت د مديريت فدرالي اداره. ۲۰۱۸ کال. د سيلاب د اوبو څخه د قيمتي ميراثونو ژغورل. واشنګټن، ډي سي، د امريکا د کورني امنيت وزارت
**پدې انټرنيټي پته کې يې موندلی شئ:** **https://perma.cc/XY64-GPM6**

ليفتن، ای. ۱۹۹۳. د  لندو فرنيچرو او د لرګينو توکو لپاره د مرمت بېړنۍ لاره چاره . د ملي پارکونو د ساتنې د خدماتو معلوماتي کتابچه، ۷ (۷). واشنګټن  ډي سي، د امريکا د کورني امنيت وزارت.
**پدې انټرنيټي پته کې يې موندلی شئ:** **https://perma.cc/4J9T-SFVZ**

د کوئينزلينډ ايالتي کتابتون. ۲۰۱۴الف. ستاسو ټولګو ته پاملرنه کول: د اوبو پواسطه د زيانمن شوو توکو ژغورل. بريزبن، د کوئينزلينډ حکومت>
**پدې انټرنيټي پته کې يې موندلی شئ:** **https://perma.cc/8V9X-YFNS**

**د توکو د وچولو طريقه**

**په هوا سره د  لندو توکو وچول**

کلتوري ميراثي توکي اکثرا د موادو د ترکيب   څخه جوړ شوي وي، لدې کبله چېرې چې امکان ولري ، بايد د کنټرول شوو شرايطو لاندې وچ شي. د توکو د وچولو لپاره  له ډېرو ساده لارو څخه يوه د هوا پواسطه وچول دي.

**د هوا پواسطه د توکو د وچولو لپاره شرایط:**

- یخه او وچه ساحه (چې لندبل نه وي) پیدا کړئ. د امکان په صورت کې ، د درنې دندې وړتیا لرونکي د هوا د ویستلو پکي او د رطوبت ضد وسایل ترلاسه کړئ ترڅو ډاډه شئ چې په هغه خونه کې چې تاسې کار کوئ، د هوا مناسب جریان موجود دی او رطوبت په نسبي ډول ټیټ دی. کچېرته د هوا ویستلو پکي او د رطوبت ضد وسایل نشئ تر لاسه کولای، لږ تر لږه دا ډاډ تر لاسه کړئ چې خونه ښه هواداره ده، یا د لېږد وړ کوچني پکي وکاروئ.
- د لمر مستقیمو وړانګو ته د وچولو لپاره د شیانو له ښکاره کولو څخه ډډه وکړئ. د توکو د وچولو د پروسې پر مهال د لمر د مستقیمو وړانګو څخه ډډه کول به د توکي د رنګ بایللو یا د شکل بدلولو څخه مخنیوی وکړي.
- د امکان په صورت کې د لږ ځای نه د ډېر کار اخیستلو لپاره د ګنو، کوچنیو توکو د وچولو لپاره د وچولو د پردو/تختو او الماری لرونکو کراچیو نه کار واخلئ.

**د هوا پواسطه توکي څرنګه وچ کړو؟**

**د فلزاتو لپاره**

فلزات که د ډېر وخت لپاره لانده وي یا په لندبل کې پرېښودل شي، زنګ نیسي. فلزي توکي ژر تر ژره وچ کړئ. د لندبل جذبولو او د وچولو نه وروسته حمایه کولو لپاره، نرمې او د پنبې نه جوړې ټوټې وکاروئ. د اړتیا په صورت کې، د پروسې د چټکولو لپاره داسې پکي وکاروئ چې په اسانۍ سره د یو ځای نه بل ته وړل کېدای شي.



*د بېړني نمونه ای تمرین پر مهال د هوا پواسطه د فلزي توکو وچول، ډوبلین، ۲۰۱۷ کال. عکس: د اکرام موسسه او د نیلي ډال لپاره د آیرلېنډ ملي کمېټه*

**د سرامیکو (کاشي) او شیشو لپاره**
د نازکو یا ماتېدونکو سرامیکو او شیشو نه د لندبل جذبولو او وچولو نه وروسته د هغوی د حمایه کولو لپاره نرمې او د پنبې نه جوړې شوې توټې وکاروئ. کله چې وچونکي مواد د نور لندبل د جذبولو وړتیا له لاسه ورکړي، بدل یې کړئ.

**د هډوکو او غاښونو/ عاج لپاره**
د هډوکو او غاښونو/عاج څخه د جوړو شوو توکو څخه د لندبل د لرې کولو لپاره سپنجونه وکاروئ. د توکو په پاسنۍ برخه باندې د وچولو د پروسې د ورو کولو لپاره د پولیستر جالۍ یا د پولی ایتیلین (یو ډول پلاستیک) نرمې توټې کېږدئ. د هډوکو او غاښونو/عاج ګرندی وچونه په دوی کې د درزونو پیدا کېدو او ماتېدو لامل ګرځېدای شي.

**د توکر او څرمني لپاره**
تیکه ای او څرمني توکي په نارنګ شوو جاذبو موادو لکه په رنګ جذبوونکي کاغذ، یا سپینو او د پنبې نه په جوړو ټوټو وپوښئ. دوی په هغه بڼه چې تاسو موندلي دي، په اوار افقي حالت کې وچ کړئ. د وچولو پر مهال د توکي د شکل د بحالولو هڅه مه کوئ.

**د هغو توکو لپاره چې نباتي منشا/ریښه ولري**
د نبات له بافت (فایبرونو) څخه جوړو شوو توکو، لکه اوبدل شوې ټوکرۍ څخه د اضافي رطوبت لرې کولو لپاره جاذب کاغذ وکاروئ، د بېلګې په ډول د قصاب کاغذ (یو ډول مضبوط کاغذ چې عموما د غوښې نه د تاوولو لپاره کارول کیږي). د وچولو پروسې د کنترول لپاره د توکو پر پاسنۍ برخه باندې د پولیستر جالۍ کېږدئ. د وچولو پر مهال د توکي د برخو د جلا کولو یا شکل بحالولو هڅه مه کوئ.

**د کتابونو لپاره**
که یو کتاب لږ غونډې لوند وي او یو پیاوړی د ملا تیر (هغه برخه چې د کتاب پاڼې یوځای کوي) او پوښ ولري، د ملا تیر یې په اواره او پاکه سطح باندې کښېږدئ، کتاب ودروئ، خلاص یې کړئ او د پکي پواسطه یې وچ کړئ.



*د بیړني نمونه ای تمرین پر مهال د هوا پواسطه د ولاړ کتاب وچول، دوبلین، ۲۰۱۷ کال. عکس: د اکرام موسسه او د نیلي ډال لپاره د ایرلینډ ملي کمېټه*

هغه کتابونه چې په بشپړ ډول لانده وي، باید په افقي ډول وچ شي. د اضافي رطوبت د وچولو لپاره کتاب په بېرنګه جاذب کاغد کې تاو کړئ. د چاپ شوو کتابونو د وچولو لپاره، د کتاب د بېلابېلو برخو تر مینځ جاذب کاغذ ځای پر ځای کړئ، ترڅو ټولې پاڼې په اغېزناکه توګه وچې شي. ځان ډاډه کړئ چې د لندبل جذبولو لپاره جاذب مواد (هغه چې د کتاب د پاڼو تر مینځ ځای پر ځای کیږي) د کتاب د اندازې څخه لږ څه لوی پرې شوي وي، او ځان ډاډه کړئ چې دا مواد د کتاب د ملا تیر ته و نه رسیږي. دا کار به د کتاب د ملا تیر خرابېدو ته پرې نږدي.

کله چې جاذب مواد ډېر لانده شي، بدل یې کړئ. کچېرې د کتاب پاڼې د ځلا لرونکي کاغذ څخه جوړې شوي وي، د پولیسټر جالۍ د جاذبو موادو په ډول وکاروئ.

د هغه کتابونو لپاره چې پوښ یې رنګ شوی وي، د پوښ او پاڼو تر مینځ یخچالي کاغذ (هغه کاغذ چې یو مخ یې د پلاستیک پوښ لري) ځای پر ځای کړئ ترڅو د رنګ د خورېدو او داغي کېدو مخه ونیسي.

**د نقاشۍ، د کاغذي هنري اثارو او د عکاسۍ د موادو لپاره**

د امکان په صورت کی زیانمن شوي چوکاټونه له نقاشیو، هنري اثارو او عکسونو څخه جلا کړئ. که چېرې هنري اثر یا عکس د چوکاټ د شیشې سره نښتی وي ، نو د شیشې نه یې د جلا کولو هڅه مه کوئ.

د پوره خارنې لاندې، او په ډېر احتیاط سره نقاشۍ، هنري اثار او عکسونه د دوی له چوکاټونو یا تکیه ګانو څخه لرې کړئ. یوازې د مسلکي څارنې لاندې دا توکي د دوی د حفاظتي جوړښتونو څخه لرې کړئ.

عکسونه، نقاشۍ او هنري اثار پداسې حال کې وچ کړئ چې مخ یې پورته خوا ته وي. د کاغذ پر مخ، کرباس او ټوکر باندې د هنري اثارو د حمایې لپاره د پولیسټر جالۍ یا جاذب کاغذ لکه د رنګ جذبوونکی کاغذ، وکاروئ. په هغه صورت کې چې هنري اثار او عکسونه لا هم د شیشو سره نښتي وي، هغوی په افقي ډول چې مخ یې پورته خوا ته وي، وچ کړئ. توکي د لمر د مستقیمو وړانګو نه وساتئ.

سرچینه: د کلتوري میراث د ټولګو شورا. ۱۹۹۸د. بېرته راټولوني، په سراسر استرالیا کې د ټولګو ساتنه او مراقبت – د ټولګو مدیریت. کینبرا، د کلتوري میراث د ټولګو شورا..

**پدې انټرنیټي پته کې یې موندلی شئ:** https://perma.cc/5NAY-J562

## کنګل کول او د لندو توکو کنګلي وچونه

د امکان په صورت کی  په لوی مقدار کې د اوبو لخوا زیانمن شوو عضوي توکو، او د کتابتون او د ارشیف توکو د باثباته کولو لپاره کنګلي  وچونه تر ټولو اغېزمنه طریقه ده. کنګلي وچونه د توکي نه یخ  لرې کوي او په بخار یې بدلوي. د خلا (واکیوم ) کنګلي وچونه لا زیاته اغېزمنه طریقه ده. دا د توکي څخه د هوا او د اوبو د بخار په لرې کولو سره، د وچولو پروسه ګړندۍ کوي.

د ګواښوونکې پېښې څخه وروسته کنګلي  وچونه او د تودوخې په ټیټه درجه کې د عضوي موادو ذخیره کول، د بسپنې موندلو او د زیانمن شوو زېربناوو بیرته په خپو درولو لپاره زیات فرصت برابروي، په پایله کې په یو باثباته چاپیریال کې د بېرته تر لاسه شوو توکو په بیا په کار اچونه کې مرسته کوي.

ترکیب شوی توکي چې د لرګیو، غابښونو/عاج، هډوکو او کاغذ څخه جوړ شوي وي، د کنګلي  وچونې پر مهال شاید بد شکله شي. د توکو بد شکله کېدل د دې نه راولاړیږي چې مختلف توکي مختلف خصوصیات ولري او له دې کبله د وچولو لپاره مختلفو طریقو ته اړتیا لري. همدا وجه ده چې د کنګلی وچونې په صورت کې د دوی په وچېدو کې فرق وي او یو شان نه وچیږي.

## توکي د کنګل کولو لپاره چمتو کول

- کله چې تاسو د یخچال لرونکي ذخیره کولو ځای برابر کړو، د یخچال لپاره د بسته بندۍ د موادو ځانګړتیاوې په پام کې ونیسئ. دا معلومات تاسې د خدماتو وړاندې کوونکې کمپنۍ نه تر لاسه کولای شئ. په عمومي ډول د درنې دندې وړتیا لرونکي، پره دار د سخت کاغذ نه جوړ بکسونه یا  کارتنونه، یا د شېدو پلاستیکي کڅوړې، د ډوډۍ یا میوو کرېټونه په یخچالونو کې د  لندو موادو د ذخیره کولو لپاره مناسب دي.
- ډاډ تر لاسه کړئ چې د ذخیره کولو ځای ته د  لندو توکو د لېږد لپاره، تاسو یخچال لرونکو لاریو ته لاسرسی لرئ.
- د نازکو/ماتېدونکو عضوي موادو زیات مقدار مه وینځئ او مه پرې اوبه تېروئ.
- کتابونه پداسې حال کې چې د ملا د تیر مخه یې لاندې خوا ته وي، شه مضبوط بسته بندي کړئ، تر څو د وچېدنې په جریان کې خراب نشي .
- د ځانګړو توکو، لکه د چرمي وقایې لرونکو کتابونو د جلا کولو لپاره یخچالي کاغذ یا کڅوړې وکاروئ. هغه توکي چې لومړیتوب لري او د کنګلي  وچونې د پروسې پر مهال باید معاینه شي، په ګوته کړئ.

**زيان او لا پسی خرابېدنه**

د کلتوري توکو د ساتنې لپاره استرالیایي انستیتوت. ۲۰۱۷. د بصري اصطلاحاتو او د هغوی د معنی ګانو لست. کنبیرا، د کلتوري توکو د ساتنې لپاره استرالیایي انستیتوت.
**پدې انټرنیټي پته کې یی لټولی شئ:** https://perma.cc/4P8N-5GBP

د اثارو د ساتنې کاناډایي انستیتوت. ۲۰۱۷. د خرابولو فکتورونه. اوټاوا. د ټولګټو او حکومتي چارو وزارت، کاناډا.
**پدې انټرنیټي پته کې یی لټولی شئ:** https://perma.cc/S65F-KNA5

**د کلتوري میراث په ټولګو پام کول**

د اثارو د ساتنې کاناډایي انستیتوت. ۲۰۱۷. په توکو او ټولګو پاملرنه. اوټاوا. د ټولګټو او حکومتي چارو وزارت، کاناډا.
**پدې انټرنیټي پته کې یی لټولی شئ:** https://perma.cc/ZDG8-Y4UU

د کلتوري میراث د ټولګو شورا. ۱۹۹۸الف. بېرته راټولونې، په سراسر استرالیا کې د ټولګو مراقبت/ پاملرنه – د کلتوري میراث په توکو پاملرنه ۱. کینبرا، د کلتوري میراث د ټولګو شورا..
**پدې انټرنیټي پته کې یی لټولی شئ:** https://perma.cc/9DS2-DRPA

د کلتوري میراث د ټولګو شورا. ۱۹۹۸ب. بېرته راټولونې، په سراسر استرالیا کې د ټولګو مراقبت/ پاملرنه – د کلتوري میراث په توکو پاملرنه ۲. کینبرا، د کلتوري میراث د ټولګو شورا.
**پدې انټرنیټي پته کې یی لټولی شئ:** https://perma.cc/49CQ-QVUV

## د تخليې لپاره مواد او تجهيزات

د بېړني حالت او د ثبتېدونکې ساحې د ډول په پام کې نيولو سره، ساحې ته د راتللو دمخه لاندیني تجهيزات تر لاسه کړئ:

**د مستند سازۍ لپاره**

- ☐ کيمره د اضافي بتريو سره، د انځوريزې مستند سازۍ لپاره.
- ☐ د سکېچ رسمولو لپاره کتابچې، د ګراف/څلور خانه ای کاغذ او کتابچې.
- ☐ پارچه نيونکې/ګيرا.
- ☐ پنسلونه او په بېلابېلو رنګونو کې د اوبو مقاووم قلمونه.
- ☐ د اندازې اخيستلو فيتې.
- ☐ د ۲ متره د اندازې ډانګې/پايه د لويو توکو د مستند سازۍ لپاره، او د چاپيريالي عکسونو لپاره د مقياس د برابرولو لپاره.
- ☐ د ۱۰ سانتي متره مقياس، د کوچنيو توکو د مستند سازۍ يا له نږدې نه د عکسونو د اخيستلو لپاره.
- ☐ سخت کاغذ او رابرټيپ.
- ☐ د مايلو ليکو والا ټوکر او نخي رسۍ، د نخښو/لېبلونو او بکسو د تړلو لپاره.
- ☐ د ځان چسپوونکې نخښې/لېبلونه، د توکو د پېژندنې د شمېرو د ليکلو لپاره د بسته بندۍ په حمايوی جوړښت باندې لګيږي. دا ډول لېبلونه بايد د توکي په سطح باندې و نه لګيږي.

**د بسته بندۍ او لېږدونې لپاره**

- ☐ نرم ململ يا نرم نخي ټوکر: دا په خونديي ډول د نرم حايل موادو په توګه يا د زياتو توکو د نغښتلو لپار کارول کېدای شي. دا هم په پراخه کچه پيدا کيږي.
- ☐ خالص تيکه ای کاغذ: دا د تيزابو نه پاک دستمالونه دي او په اسانۍ سره پيدا کيږي، د پنبې او  يا لېنن نه جوړ دا دستمالونه د کاغذي او تيکه ای هنري اثارو د تاوولو لپاره کارول کېدای شي.
- ☐ پوليستر فلم: يوه رڼه او بې رنګه پلاستيکي ټوټه چې د عکسونو يا نورو کاغذي اسنادو د ذخيره کولو لپاره کارول کيږي. دا معمولا د (ميلر) يا (ميلينکس) په نومونو پلورل کيږي.

- ☐ (ټيوک) برانډ نوم دی او دا هغه مصنوعي مواد دي چې د لوړ غلظت د پولي ايتلين د بافت څخه جوړيږي. تيوک د اوبو پر وړاندې د مقاوم پوښونو جوړولو لپاره کارول کيږي. دا معمولاً د ودانيو د جوړولو پرمهال د ودانيو دحفاظت لپاره کارول کېږي.
- ☐ ترپال
- ☐ پولی ايتلين سپنج: معمولاً د (ايتافوم) په نوم پلورل کيږي، د پولي ايتلين سپنج د نرمو
- ☐ حايلو موادو په ډول کارول کېدای شي، د جټکو د زغمولو په موخه، دا په اسانۍ سره د هغې توکي د مضبوط نيولو لپاره چې بسته بندي کېږي، غوښتل کېدای شي.
- ☐ پوکڼۍ لرونکی پوښ: د يو لنډمهال حل په توګه پوکڼۍ لرونکی پوښ د جټکې زغمونکو موادو په ډول کارول کېدای شي. ليکن، پوکڼۍ لرونکې سطح بايد د توکي سره په مستقيم تماس کې نه وي.
- ☐ تکيه ګانې / بالښتونه: د نازکو يا ماتېدونکو توکو د بسته بندۍ کولو لپاره عادي تکيه ګانې او بالښتونه کارول کېدای شي.
- ☐ توليې: د پنبې نه جوړی سپينې توليې د نرمو حايلو موادو په توګه کارول کيدای شي.
- ☐ د پولي ايتلين کڅوړې: د خوړو د درجې د پولي ايتلين کڅوړې د نازکو/ماتېدونکو يا کوچنيو توکو د بسته بندۍ لپاره کارول کېدای شي.
- ☐ د سخت کاغذ (کارت بورډ) بکسونه: د سخت کاغذ عادي بکسونه د توکو لپاره د بکسونو په ډول کارول کېدای شي. ليکن، لکه څرنګه چې دوی زړيږي، دوی کولای شي تيزابي بخارونه خوشي کړي، کوم چې توکو ته زيان رسوی. د شيانو د خوندي کولو لپاره دا سپارښتنه کيږي چې د سخت کاغذ د بکس دننه برخه په نرم او نارنګ شوي نخي ټوکر يا خالص تيکه ای کاغذ سره وپوښل شي.
- ☐ د لرګيو نه جوړ د ميوو کرېټونه: معمولاً د خراب کيفيت لرګيو څخه جوړ شوي وي، دا ډول کرېټونه د غير عضوي موادو لکه ډبرو/تيګو يا خټو/خاورو د لېږدولو لپاره کارول کېدای شي. ليکن، دوی بايد هرو مرو په کاغذ يا پنبې سره وپوښل شي. د دې ډول کرېټونو کارول په اصل کې يو لنډمهاله حل دی.
- ☐ پلاستيکي بکسونه: راڼه بکسونه چې له پلاستيک څخه جوړ شوي وي او معمولاً د خوړو د ذخيره کولو لپاره کارول کيږي، دوی د نازکو/ماتېدونکو يا کوچنيو توکو لپاره د بکسونو په توګه هم کار ورکولای شي.
- ☐ پلاستيکي کرېټونه: ډېری وختونه د شيدو د کارتنونو، يا ميوو او سبزيجاتو لېږدولو لپاره کارول کيږي، پلاستيکي کرېټونه د توکو د ذخيره کولو او لېږدولو لپاره يو بل لنډمهاله حل دی.

- ☐ پلاستیکي پتنوسونه: معمولاً په موزیمونو او آرشیفونو کې کارول کیږي، د پولي ایتلین څخه جوړ شوي کم ژوروالي/عمق والا  پلاستیکي پتنوسونه په خوندي ډول د توکو د ذخیره کولو او لیږدولو لپاره کارول کېدای شي.
- ☐ لوله ای / پوسټري ټیوبونه: د لوی قطر دا ډول ټیوبونه د کرباسي، کاغذي او ټیکه ای هنري اثارو د بسته بندۍ لپاره کارول کېدای شي.
- ☐ تختې: هغه بکسونه چې توکي پکې ځای پر ځای شوي وي، د هغوی د ذخیره کولو او پر ځمکه باندې د کېښودلو لپاره پلاستیکي یا د لرګیو تختې کارول کېدای شي. لیکن، که د لرګیو تختې کاروئ، ځان ډاډه کړئ چې دوی له حشراتو څخه خوندي وي او د پولي ایتلین په ټوټو یا ترپالونو پوښل شوي وي، ترڅو د هغو بکسونو سره د تختو د مستقیم تماس مخه ونیسي، چې میراثي توکي لري.
- ☐ د بسته بندۍ رابرټیپ.
- ☐ قیچي ګانې.
- ☐ د بکس پرېکولو چړې.
- ☐ خپله نښلېدونکي کاغذی نښلېدونکي/سټیکرونه د بکسونو او ذخېرې د لېبلونو لګولو لپاره

**اضافي اکمالات**

- ☐ رسۍ
- ☐ خطکش
- ☐ سطلونه
- ☐ زینې
- ☐ د لوښو د وړلو راوړلو لپاره کراچۍ
- ☐ لاسي کراچۍ/لاس ګاډی

## د ژغورنې لپاره مواد او تجهيزات

دا لستونه داسې بشپړ لستونه ندي چې ګويا څه به ترې پاتې نه وي. موږ يوازې هغه توکي لست کړي دي چې په اسانۍ سره پيدا کيږي. که تاسو د ډېرو نورو مناسبو موادو په ډېر مقدار د موندلو وړتيا لرئ، يا دا چې په ځايي ډول پيدا کېدونکي مواد وکاروئ، په هغه صورت کې چې تاسې داډ ترلاسه کړئ چې دا مواد توکو او يا هغو جوړښتونو ته چې تاسې يې باثباته کوئ، کوم زيان نه پېښوي، نو د کارولو څخه يې ډډه مه کوئ.

**د ساحې د مصون کولو لپاره**

- ☐ د خبرداري د پټيو استعمال د هغو سيمو لپاره چې مصونې نه وي يا د هغو سيمو لپاره چې لاسرسی ورته محدود وي.
- ☐ سيمي جالۍ: ساده يا د درنې دندې د زنګ ضد پوښ لرونکې کټاره. تاسو دا ځانګړو سيمو ته د لاسرسي د مخنيوي لپاره کارولی شئ.
- ☐ د ګواښوونکو سيمو او هغو سيمو په نخښه کولو لپاره چې لاسرسی ورته محدود وي، د مروجه نخښو درلودونکي د مصونيت لوحې وکاروئ. لوحې بايد لويې، په ښکاره ډول لېدلو او د ټولو کارمندانو لخوا د پېژندلو وړ وي.
- ☐ مضبوطه نښلېدونکې: د اوبو پر وړاندې مقاومه ، د توکر پوښ لرونکې او د فشار پر وړاندې حساسه پټۍ.
- ☐ د مصونيت د لوحو او د خبرداري د پټيو د ودرولو لپاره د لرګيو ډانګې/پايې.
- ☐ د ارزونې پر مهال د کمزورو پوړونو د خوندي کولو لپاره د لرګيو تختې.
- ☐ په اسانه سمبالېدونکو ځوړندو توکو ته د لاسرسي لپاره زينه.

**د مستند سازۍ لپاره**

- ☐ کيمره د اضافي بتريو سره، د انځوريزې مستند سازۍ لپاره.
- ☐ د سکېچ رسمولو لپاره کتابچې، د ګراف يا څلور خانه ای کاغذ او کتابچې.
- ☐ پارچه نيوونکی/ګيرا.
- ☐ پنسلونه او په بېلابېلو رنګونو کې د اوبو مقاوم قلمونه.
- ☐ د اندازې اخيستلو پيټې.
- ☐ د ۲ متره د اندازې ډانګې/پايه ، د لويو توکو د مستند سازۍ لپاره، او د چاپېريالي عکسونو لپاره د مقياس د برابرولو لپاره. د ۱۰ سانتي متره مقياس، د کوچنيو توکو د مستند سازۍ يا له نږدې نه د عکسونو د اخيستلو لپاره.

- ☐ سخت کاغذ او رابرټيپ.
- ☐ د نخښو/لېبلونو او بکسونو د ترلو لپاره د مايلو ليکو والا ټوکر  او نخي رسۍ.
- ☐ ځان چسپوونکي نخښې/لېبلونه، د توکو د پېژندنې د شمېرو د ليکلو لپاره، د بسته بندۍ په محافظتي جوړښت باندې لګيږي. دا ډول لېبلونه بايد د توکي په سطحه باندې و نه لګيږي.

**د زيانمن شوو توکو د باثباته کولو لپاره**

- ☐ د شبکې جوړولو لپاره رنګه رسۍ يا تارونه.
- ☐ ترپال.
- ☐ سرېښ لرونکي کاغذونه او چسپېدونکي لېبلونه.
- ☐ د لېبلونو جوړولو لپاره پنسلونه او د اوبو پر وړاندې مقاوم مارکرونه.
- ☐ د بېلابېلو اندازو  نرم او اوار برشونه.
- ☐ د خټينو لوښو او سراميکو/کاشي د پاکولو لپاره د غاښونو برشونه.
- ☐ د بېلابېلو اندازو سپنجونه.
- ☐ د لوګي/تورکي پاکوونکي سپنجونه: دا د اثارو د ساتنې د وسايلو پلورونکو او د ځانګړو هنري اثارو او لاسي صنايعو دوکانونو نه تر لاسه کولای شئ.
- ☐ د کاغذ توليې.
- ☐ د چلندي تنۍ والا پلاستيکي کڅوړې.
- ☐ د کم ژوروالي/عمق والا پتنوسونه.
- ☐ د پوليستر جالۍ يا جال.
- ☐ د امکان په صورت کې  برقي جارو.
- ☐ سطلونه.
- ☐ طاق لرونکي د لوښو د وړلو راوړلو کراچۍ.
- ☐ د جامو وچولو کوټ بندونه
- ☐ د درنو شيانو لپاره د استعمال وړ د سخت کاغذ يا پلاستيک بکسونه



نرم سپین ململ



نخي تار




د خبرداري پیته



پرېکونکی



۱۰ سانتي متره خط کش



د پولیسټر فلم



د لرګیو تختې



د لوګي/تورکي پاکوونکي سپنجونه



د بسته بندۍ لپاره زېړ رابر ټیپ



د اندازه کولو پیته



تکه ای تار



د تیوک لوله



خالص تیکه ای کاغذ



د پولي ایتلین سپنج



پوکنۍ لرونکی پوښ



راډ/ډانګی



پلاستیکی پتنوس




خبر دار



الماری لرونکی کراچی



کوچنی زینه



د شېدو پلاستیکي صندوقونه



لوله ای/پوستېري ټیوبونه

## د خطر سره د مخ کلتوري میراث توکو او تولګو ته لندمهاله پوښ څرنګه چمتو کولای شو؟

١ د ملبې د ډېرې اوږدوالی او سور اندازه کول.

٢ د ملبې هغه ډېرې چې تاسې اندازه کړېده، د هغې نه لوی یو د اوبو پر وړاندې مقاوم پوښ، لکه ترپال لاسته راوړئ. که تاسې یو لوی پوښ چې د ساحې ټوله سطحه وپوښلی شي، نشئ تر لاسه کولی، د مطلوبې اندازې د لاسته راوړلو لپاره، هومره مواد چې ورته اړتیا لیدل کیږي د مضبوط، د فشار پر وړاندې د حساس رابرټیپ پواسطه سره یوځای کړئ.

٣ ملبه وپوښئ او پوښ د مځکې سره د خېمې د موري په ټک وهلو یا په پوښ باندې د درندو توکو په کېښودلو سره مظبوط کړئ. د بدیل په ډول، کچېږې سرچینې اجازه ورکوي، له هر اړخه د پوښلو لپاره خېمه و هل کېدای شي.

## د پوښ لپاره لندمهاله چوکاټ څنګه جوړولای شو؟

د لنډمهاله چوکاټ د جوړولو لپاره لاندې ځینې لارښوونې شوې دي. که چیرته چوکاټ د یو درونډ چت د ملاتړ لپاره کارول کیږي نو د یو انجنیر د لارښوونې پرته د چوکاټ د جوړولو هڅه مه کوئ.

**یو جوړښت/ساختمان ته پشتي ورکول یا د هغه مظبوطول**

یو چوکاټ د عمودی پایو، افقی بشونو او مایلو پشتي ګانو څخه جوړیږي، تر څو چوکاټ مضبوط کړي. مستطیلي چوکاټونه د افقی بارونو لاندې په چټکۍ سره کریږي. مثلثي جوړښتونه ډېر مقاومت لري. په مایلو پشتي ګانو سره د یو مثلثي جوړښت تقویه کول د کړېدو مخه نیسي.




*رسم: یوجینې کریتې*

په مایل ډول د یو جوړښت په  پشتۍ کولو سره د تقویه کولو لپاره، تاسوکولای شئ د لرګیو، بانس یا سیم څخه کار واخلئ.  که تاسو سیم کاروئ، تاسو باید دا د لرګیو د یوې ټوټې یا یو لوی میخ څخه تاو راتاو کړئ، تر څو د دې قوت زیات شي. برسېره پردې، کله چې د سیم څخه کار اخلئ، تاسو باید د دېوال دواړو کونجونو ته په مایل ډول پشتي ولګوئ (په داسې حال کې چې د بانس یا لرګیو کارولو په صورت کې د دې د پیاوړتیا لپاره یو کنج ته په  مایل ډول پشتي لګول بسنه کوي).



*دا رسامي له :( د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون (ای، ایف، ار، سي). این.ډي. د آی ایف ار سي د سرپناه بکسه. جینوا، آی ایف ار سي.) څخه اخیستل شوې ده.*

که تاسو یو سخت عنصر کاروئ، نو یو مایل عنصر د پشتۍ لپاره بسنه کوي. که تاسو سیم کاروئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو دواړه مایلو لورو ته پشتي لګوئ. تاسو کولی شئ چې جوړښت ته د هغې په زاویو کې مایله پشتي ورکړئ، ترڅو د لرګیو کوچنۍ ټوټې وکاروئ.



*رسم: یوجینې کریتې*

**د لرګیو نه د جوړو عناصرو نښلول/وصلول**

- لرګي په عمومي توګه د مېخونو، موږو،  پیچي مېخونو ، یا د بولټونو پواسطه وصل کېږي. د بندونو/جوړونو د پیاوړتیا لپاره، تاسې کولای شئ چې فلزي پټۍ یا ملګرې تختې (فلزي تختې چې د یو بند/جوړ دواړو اړخونو ته مېخ شوې وي) وکاروئ.
- یو مېخ د بند/جوړ د خوځېدو یا بې شکله کېدو مخه نه نیسي. دا غوره ده چې دوه مېخونه په زاویه کې ووهل شي،  ځکه زاویه د مېخونو په اسانۍ سره د ویستل کېدو مخه نیسي.

- د لوړې پیمانې ککړونکي چاپیریال کې (د بېلګې په ډول، سمندر ته نږدې سیمې) د عناصرو د وصلولو لپاره موري او پانې وکاروئ. تاسو به دلته د مرستې لپاره یو ترکاڼ ته اړتیا ولرئ.
- تاسو کولای شئ چې د درندي دندې د زنګ ضد پوښ لرونکی د کټاري سیم یا رسۍ هم وکاروئ. کله چې طبیعي فایبرونه کاروئ ، د کارولو دمخه یې لانده کړئ، ځکه چې دوی د وچېدو پرمهال ځان راغونډوي او بند مضبوطوي.

**د بانس دعناصرو نښلول/وصلول**

- که تاسو د چوکاټ جوړولو لپاره بانس کاروئ، نو مېخونه مه کاروئ. یوازې د درندي دندي لپاره د استعمال وړ سیم یا رسۍ وکاروئ چې په زنګ ضد موادو پوښل شوي وي. کله چې طبیعي فایبرونه کاروئ ، د کارولو دمخه یې لانده کړئ، ځکه چې دوی د وچېدو پرمهال ځان راغونډوي او بند مضبوطوي.
- اتصال باید د بانس د دوو بندونو تر مینځ رامینځته شي، ځکه د بانس سرونه/پای په اسانۍ سره جلا کیږي.

**په چوکاټ پورې د یو درانده فلزي شي داسې وصلول چې هغه حرکت ته پرې نږدي**

- تاسو کولی شئ چې چوکاټ د مځکې سره د لنګر کولو پواسطه ونښلوئ. د لنګر ثبات د کارول شوي رسۍ د ځواک او فشار، او همدارنګه د ثابت عنصر لخوا چمتو کیږي چې چوکاټ ورسره وصل شوی وي، لکه یو موږې، ونه، یا پایه.
- د لنګر ورکوونکي پایې سره د رسۍ تړلو لپاره تاسو دوه غوټې ورکولی شئ، (لاندیني د کین اړخ او منځنی رسم) ، او یا د یو لنګر سره د رسۍ د تړلو لپاره تاسې یو داسی شی کارولی شئ چې پورته/ښکته یا یو خوا/بل خوا حرکت کولو سره توکی استوار وساتي،



*رسامي له: د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون (ای، ایف، ار ، سي). این.ډي. د آی ایف ار سي د سرپناه بکسه. جینوا، آی ایف ار سي،ځخه رااخیستل شوی ده.*

کارولی شئ (لاندینی ښي اړخ ته رسم)

- مخکې له دې چې په  شاوخوا کې د موجودو توکو سره تاسې چوکاټ مضبوط/ په توازن کې کړئ، یعنې لنګر یې کړئ، د دې توکو (یعنې د کومو سره چې چوکاټ تړل کیږي) مقاومت وګورئ.
- که تاسو ځمکه کیندلای شئ، تاسې کولای شئ چې یو موړۍ وکاروئ (یعني چې موړي پورې رسۍ وتړئ)، یا یو داسې توکی چې مقاومت ورکوي په ځمکه کې ښخ، یا سیمي تسمې چې د ځمکې نه بهر ته خورې شوي وي، د رسۍ سره وصل کړئ.
- که تاسو نشئ کولی چې ځمکه وکیندئ، تاسو هر هغه توکی چې پوره دروندوالي ولري، لکه د شګو نه ډکې بوجۍ یا د خاورو، شګو، ډبرو ، چونې یا سیمنټو نه ډک کړی شوي سطلونه ، د رسۍ د مظبوطولو/لنګر کولو لپاره وکاروئ.

**د پایو باثباته کول**

- په ځمکه کې د نږدې ۵۰ سانتي مترو په ژوروالي د یو قوتي په کیندلو سره تاسې یوه پایه مضبوطولای شئ. پایه په قوتي کې ښخه کړئ او نږدې ۱۰ متره د شاوخوا په خاورې دومره فشار وارد کړئ چې پایه مضبوطه ونیسي. دا پروسه تر هغې تکرار کړئ، چې قوتی په بشپړ ډول ډک شي او پایه مضبوطه ودریږي. د امکان په صورت کی، د هغې خاورې سره چې قوتی ترې ډکوئ، ۵٪ سلنه چونه یا سیمنټ ګډ کړئ.
- د پایې د ښه مضبوطولو لپاره پانې کارولی شئ. تاسو کولی شئ چې د پایې په بېخ کې د لرګیو یو لنګر هم ورزیات کړئ ترڅو د دې د سطحې ساحه پراخه شي او د جاذبې مرکز ټیټ شي.




*دا رسامي له: ( د سره صلیب او سرې میاشتې تولنې نړیوال فدراسیون (ای، ایف، ار، سي). این.ډي. د آی ایف ار سي د سرپناه بکسه. جینوا، آی ایف ار سي) څخه رااخیستل شوېده.*

- که تاسو نشئ کولای چې ځمکه وکیندئ ، تاسو کولای شئ د پایې په شاوخوا کې د شګو نه ډکې بوجۍ ډیرۍ کړئ، یا پایه په یو لوی سطل کې ودروئ او سطل له خاورې، شګو، تیګو، چونې یا سیمنټو څخه ډک کړئ.

**یو ترپال څرنګه مضبوطولای شو؟**

- که تاسې یو داسې ترپال چې سوري نلري د رسۍ پواسطه د کوم موري سره وصل کول/ مضبوطول غواړئ، د ترپال یوې څنډې ته غوټه ورکړئ او رسۍ د غوټې نه تېره کړئ. د بدیل په توګه، د ترپال په باندینۍ ژۍ کې یوه وړه تیګه/کاڼی راونغاړئ. رسۍ د دې شاوخوا راتاوه کړئ او غوټه ورکړئ. د دې لپاره چې د مېخ کولو پر مهال ترپال څیري نشي، مخکې د مېخ کولو نه یې د لرګي د یوې ټوټې شاوخوا راتاو کړئ، یا د پلاسټیک کومه کړی یا د بوتل سر وکاروئ. د حمایې نه پرته مېخ شوی ترپال به ژر څیري شي، په ځانګړي ډول کچېرته د ترپال کیفیت هم ټیټ وي.
- ترپالونه باید په کوم چوکاټ باندې چې مېلان یې د ۳۰ درجو زیات نه وي، ښه مضبوط کش کړی شي، تر څو د اوبو د راغونډېدنې مخه ونیول شي. په ځانګړې توګه که تاسو لوی ترپالونه کاروئ، نو ځان ډاډه کړئ چې اوبه د ترپال د حساسو برخو نه بهیږي، ، ځکه چې په دوی شاید د اوبو ډېر مقدار جمع شي.




- تاسو کولای شئ چې ترپال پدې ډول مضبوط کړئ چې یو قوتی وباسئ ، بیا د ترپال څنډه په قوتي کې ننباسئ او خاورې پرې واړوئ. تاسې د ترپال د څنډې په قوتي کې د ښخولو دمخه، په هغې کې تیګې هم بندولی شئ. تیګې د یو موټي د اندازې نه باید لویې وي، تر څو ترپال څیری نکړی.
- که تاسو غواړئ چې ترپالونه د ګنډلو له لارې سره یوځای کړئ، ترپالونه پداسې ډول قات کړئ، چې تار د پلاستیکي ټوټو له طبقو څخه تېر شي.
- ځان ډاډه کړئ چې ترپالونه د سینګار شوو سطحو سره، د دوی تر مینځ د یوې محافظتي طبقې پرته، په تماس کې ندي. په یاد ولرئ، که چېرې ترپالونه په مضبوط ډول ترل شوي نه وي، دوی ممکن د تېزې سیلۍ پر مهال له مینځه ولاړ شي. پداسې حالت کې دوی نور د یوې محافظتي وسیلې په ډول اغېزناک ندي، او دوی شاید له دروازې د باندې (یعنې د کور د باندې) سطحو د سینګار توکي له کاره وباسید.

ځان داړه کړئ، چې د دروازې دننه ځایونو د پوښلو پرمهال، د هوا د چلند مخه و نه نیسئ. لومړی، ځکه چې د هوا د چلند نشتوالی کېدای شي خوندي کړی شوي عناصر اغېزمن کړي، په ځانګړې توګه که دوی لندبل ولري. دوهم، ځکه چې مناسب هوا چلوونکي به د پوښ د الوتلو ګواښ کم کړي. دا اړینه ده چې د هوا چلوونکي یوازې د لند مهاله چت د لاندې ځای پر ځای کړئ – د بېلګې په ډول، د دیوالونو او لند مهاله چت ترمینځ د ۱۰ سانتي مترو په اندازه ځای پرېښودل.

## د سي جي ای/سي جي ایس CGI/CGS د ځادرو مضبوطول/وصل کول

که تاسو وغواړئ چې د اوسپنې یا فولادو داسې پرې پرې شوي ځادرې، چې د زنګ زد موادو په واسطه پوښل شوي وي (ګالوانایزد)، داسې وکاروئ چې اوبه وانخلي یا اوبه جذب نکړي نو تاسې باید دوه ځادرې په جانبي ډول یو پر بل ورتیر کړئ. او د اوږدو په امتداد یې لږ تر لږه ۱۵ سانتي متره یو د بل د پاسه تیر کړئ. او بیا یې د داسې میخونو په واسطه چې لوی سرونه ولري یو له بل سره محکم ونښلوئ.



*رسامی له: د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون (ای، ایف، ار، سي). این.ډي. د آی ایف ار سي د سرېناه بکسه. جینوا، آی ایف ار سي، نه رااخیستل شوېده.*

د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون (ای، ایف، ار، سي). این.ډي. د آی ایف ار سي د سرپناه بکسه. جینوا، آی ایف ار سي.
پدې انټرنیټي پته کې یې موندلی شئ: https://perma.cc/RY5Z-DEU3

د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون (ای، ایف، ار، سي). ۲۰۱۵. ایف ار سي د بېړنیو سرپناوو او چټونو لپاره د بانس چوکاټ: تخنیکي پاڼې . جینوا، آی ایف ار سي.
پدې انټرنیټي پته کې یې موندلی شئ: https://perma.cc/S7YY-78MG

## د لرګیو د ساده پشتي ګانو د جوړولو لپاره قدم په قدم لارښود

لاندې متن په بېړني ډول د کلتوري میراثي جوړښتونو د باثباته کولو لپاره د لرګیو د پشتي ګانو د مختلفو ډولونو جوړولو لپاره عمومي لارښوونه کوي. خو که غواړئ چې د پشتي ګانو تر ټولو مناسب ډول انتخاب کړئ نو د یو داسې ساختماني انجنیر سره مشوره وکړئ چې د ځایي کلتوري میراث په جوړښتونو او د دوی په ساختماني توکو بانددې پوهیږي.

په یاد ولرئ چې په بېړني حالت کې ، پشتي ورکونه د هغو جوړو شوو عناصرو د محافظت لپاره یو تخنیک دی، چې د رنګېدو له ګواښ سره مخ وي. د پشتۍ ورکونې د کاري جریان لپاره، او په بېړنۍ توګه د باثباته کولو د نورو ښکېلو کړنو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره د سامان د بکسې ۱۱۵–۱۰۸ مخونو ته مراجعه وکړئ.

### ۱ پاني

پانې د دې لپاره کارول کیږي چې د لرګیو پشتۍ د هغې جوړښت سره چې باثباته کیږي، مضبوطې کړي. دوی د پشتۍ د بېلابېلو برخو تر مینځ د تشو ځایونو په ډکولو کې مرسته کوي او د پشتۍ جوړول اسانوي. لاندې به د دوی د کارولو د څرنګوالي په اړه قدم په قدم لارښود وګورو.

د اړتیا وړ وسایل: اره، ښتکی

**لومړی قدم:** د لرګیو یوه ټوټه واخلئ او د دوو پانو په بڼه یې پرې کړئ.




*رسامي: نیلسن ویلا پوکا*

**دوهم قدم:** لومړنۍ پانه په هغه تشه کې چې ډکولو ته یې اړتیا ده ځای پر ځای کړئ، بیا میخونه وکاروئ چې د پانې د ښویدلو مخه ونیول شي. بیا دوهمه پانه په تش ځای کې کېږدئ او د څټکې پواسطه یې دننه لوري ته تر هغې وټکوئ تر څو د لرګیو د نورو ټوټو ترمینځ ښه کلکه شي.




*رسامی: نیلسن ویلا پوکا*

**دریم قدم:** د دوهمې پانې د مضبوطولو لپاره مېخونه وکاروئ.



*رسامی: نیلسون فیلا بوکا*

***میخ شوې پانې:***
*څه وکړئ چې د یو میخ د بل میخ سره فاصله لږ تر لږه ۳ سانتي متره او د میخ او د تختې د پای تر مینځ فاصله ۵ سانتي متره وي. د زنګ وهلو نه د ژغورنې لپاره میخونه باید قلعي شوي وي*

## ۲ د ساده عمودي پشتۍ لومړی ډول

وسایل: اره، څټکی

لاندې ورکړې شوې «T» شکله پشتي، یوه لنډمهاله پشتي ده کومه چې په چټکه توګه نصبېدای شي، لیکن که د بار د لاندې په سم ډول واقع نشي، خپل ثبات د لاسه ورکولای شي. دا باید پدې فکر جوړه شي چې د نورو ډېرو پایدارو پشتیو لکه د غبرګو «T» شکله پوشتیو د جوړلو دمخه په لنډمهاله ډول وکارول شي.




*تصویر: نیلسون ویلا پوکا*

**لومړی قدم:** د لرګیو تولې توټې تیارې کړئ، او هغه ځای پاک کړئ په کوم کې چې د بنسټ تخته ځای پر ځای کول غواړئ.

**دوهم قدم:** د سر تیر د پایې سره مېخ کړئ او دواړو اړخونو ته حفاظتي تختې وکاروئ.



تصویر: نیلسن ویلا پوکا

**دریم قدم:** د بنسټ تخته په مځکه کې د هغه بش نه مستقیما لاندې ځای پر ځای کړئ چې تاسې یې باثباته کول غواړئ (که چېرته مځکه ډېره نرمه وي، تاسو به د مځکې او د بنسټ د تختې تر مینځ د نورو تختو ځای پر ځای کولو ته اړتیا ولرئ)، او لومړۍ پانه د هغې په سر باندې کېږدئ. د پانې د مضبوطولو لپاره د بنسټ په تخته مېخ ووهئ. دوهمه پانه په لومړۍ پانه باندې کېږدئ او د پایې/ سر تیر ټوټه په دوهمه پانه باندې ځای په ځای کړئ. دوهمه پانه په خپل ځای کې تر هغې په ځټک باندې ووهئ چې د سر تیر د هغه بش سره چې باثباته کول یې غواړئ وصل شي. په دوهمه پانه باندې د ښویېدلو د مخنیوي لپاره مېخ ووهئ.



تصویر: نیلسن ویلا پوکا

**څلورم قدم:** د حفاظتی تختې د ځای پر ځای کولو سره د پایې او د بنسټ د تختې نښلول پای ته ورسوئ.



تصویر: نیلسن ویلا پوکا

## ۳ د ساده عمودي پشتئ دوهم ډول

لاندې ښودل شوې پشتې هم  یوه لنډمهاله پشتې ده کومه چې په چټکه توګه نصبېدای شي، لیکن که د بار د لاندې په سم ډول واقع نشي، خپل ثبات د لاسه ورکولای شي. دا باید د نورو ډېرو پایدارو پشتیو د جوړلو دمخه جوړه شي.



*تصویر: نیلسن ویلا بوکا*

**لومړی قدم:** د لرګیو ټولې ټوټې تیارې کړئ، او هغه ځای پاک کړئ په کوم  کې چې د بنسټ تخته ځای پر ځای کول غواړئ.

**دوهم قدم:** د سر تیر او عمودي پایه سره مېخ کړئ. دوه مایلې پایې، هرې خواء ته یوه، د سر د تیر او د عمودي پایې تر مینځ مېخ کړئ.




*تصویر: نیلسن ویلا بوکا*

**دریم قدم:** د بنسټ تخته په مځکه کې د هغه بش نه مستقیما لاندې ځای پر ځای کړئ چې تاسې یې باثباته کول غواړئ (که چېرته مځکه ډېره نرمه وي، تاسو به د مځکې او د بنسټ د تختې تر مینځ د نورو تختو ځای پر ځای کولو ته اړتیا ولرئ)، او لومړۍ پانه د هغې له پاسه کېږدئ. د پانې د مضبوطولو لپاره د بنسټ په تخته مېخ ووهئ. دوهمه پانه په لومړۍ پانه باندې کېږدئ او د پایې/د سر تیر ټوټه په دوهمه پانه باندې ځای په ځای کړئ. دوهمه پانه په خپل ځای کې تر هغې په څټک باندې ووهئ چې د سر تیر د هغه بش سره چې باثباته کول یې غواړئ وصل شي. په دوهمه پانه باندې د ښویېدلو د مخنیوي لپاره مېخ ووهئ.



*تصویر: نیلسون فیلا بوکا*

**ځلورم قدم:** د محافظتي  تختې د ځای پر ځای کولو سره د پايې او د بنسټ د تختې نښلول پای ته ورسوئ.



*تصویر: نیلسون فیلا بوکا*

د بېړني حالت د ماهیت، او د زیان د ډول په پام کې نیولو سره، د عمودي پشتي ګانو نور ډولونه هم کارول کېدای شي. لاندینی رسم یوه متفاوته نمونه په ګوته کوي.



*تصویر: نیلسون فیلا بوکا*

## ٤ ساده متمایله پشتي

لاندې په کیڼې خوا کې ښودل شوې متمایلې پشتۍ ته الوتونکې پشتي هم وايي: دا لنډمهاله ده او د دېوال د ښېخ تر څنګ د جمع شوې ملبې د خوندي لرې کولو پر مهال کارول کېږي.

د دېوال تخته د برمې پواسطه (که چېرته دیوال د خښتو، تیګو یا ختو وي) یا د مېخونو پواسطه (که چېرته دیوال د لرګي وي) د دېوال سره مظبوطه وصل کړئ. که چېرې دیوال سینګار شوی وي، ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د لارښود د ۱۱۴ پاڼې سره سم یوه جلا کوونکې طبقه د تختې او دېوال تر مینځ لرئ.

که چېرې د دېوال د تختې پاسنۍ برخه د دېوال راوتلې برخې ته اوره ورکولای شي، د دېوال سره د تختې وصلولو ته اړتیا نشته، لېکن یواځې د اصطکاک په قوې باید بسنه ونشي.

که چېرې د دیوال د ښېخ سره نږدې موانع موجود نه وي، متمایله پشتي چې په ۸۷ پاڼه کې ښودل شوې، هم کارول کېدای شي.



*تصویر: نیلسون فیلا بوکا*



*تصویر: نیلسون فیلا بوکا*

د اړتیا وړ وسایل: ختکی، اره، او برمه، که چېرته تاسو پلان لرئ چې متمایله پشتي د دېوال سره د برمه کېدونکو لنګرونو یا د بنسټ د لنګر سره د برمه کېدونکي تختې پواسطه مضبوطه کړئ.

## ۵ د کړکۍ یا دروازې پشتۍ لومړی ډول

پـه هغه صورت کې چې د دروازو یا کړکیو چوکاټونه زیانمن شوي وي، دا پشتۍ د خلاصو ځایونو د باثباته کولو لپاره کارول کېږي.

د اړتیا وړ وسایل: اره، څټکی



*تصویر: نیلسون فیلا بوکا*

**لومړی قدم:** د لرګیو تولې توټې تیارې کړئ، او د خلاص ځای چوکاټ چې باید پشتي کړی شي، پاک کړئ.

**دوهم قدم:** د بنسټ تخته د پانو د یوې ټولګې سره په یو طرف کې (لاندیني طرف/درشل) کې نصب کړئ او په ورته وخت کې تخته او پانې یوځای تر هغې وټکوئ چې د بنسټ تخته مضبوطه شي. د بنسټ تخته باید څومره چې شوني وي اواره ځای پر ځای کړی شي (اب ترازو شي). د تختې لاندې د اړتیا سره سم وړې پانې وکاروئ.

**دریم قدم:** د سر تیر/سرطاق د پانو د یوې ټولګې سره د بنسټ د تختې په مقابل طرف کې نصب کړئ او په ورته وخت کې سرطاق او پانې یوځای تر هغې وټکوئ چې سرطاق مضبوط شي. سرطاق باید څومره چې شونې وي اوار ځای پر ځای کړی شي (اب ترازو شي). د سرطاق له پاسه د اړتیا سره سم وړې پانې وکاروئ.

**څلورم قدم:** د کيڼې خوا پايه/بازو د سرطاق د پانو د طرف لاندې، د خلاص ځاي ځنډې ته، چې د دې پايې/بازو او د بنسټ د تختې تر مينځ د پانو يوه ټولګه موجوده وي، نصب کړئ.

**پنځم قدم:** د ښي خوا پايه/بازو چې د دې پايې/بازو او د بنسټ د تختې تر مينځ د پانو يوه ټولګه موجوده وي، نصب کړئ.

**شپږم قدم:** منځنۍ پايه/بازو چې د دې پايې/بازو او د بنسټ د تختې تر مينځ د پانو يوه ټولګه موجوده وي، نصب کړئ.

**اووم قدم:** د پانو ټولګه مضبوطه کړئ.

**اتم قدم:** د پشتۍ سره دوه مايلې تختې ميخ کړئ.

## ٦ د کړکۍ يا دروازې پشتۍ دوهم او دريم ډول

کله چې دننه ننوتل اړين وي او د دروازو يا کړکيو چوکاټونه زيانمن شوي وي، دا پشتۍ د خلاصو ځايونو د باثباته کولو لپاره کارول کيږي.

د اړتيا وړ وسايل: اره، څټکۍ



*تصویر: نیلسون فیلا بوکا*

## د پشتيو جوړولو لپاره لارښوونې

- داسې لرګي وکاروئ چې اوږدوالی يې د سور د ۲۵ چنده نه ډېر نه وي، دا ډول لرګي د فشار پر وړاندې مقاوم او د کږېدو ګواښ يې کم وي.
- پانې ډېرې حساسې ټوټې دي، د پانو جوړلو لپاره داسې لرګي وکاروئ چې خنډ يا کوم عيب ونلري او په پوره ډول وچ وي تر څو د خرابېدو يا د شکل د تغير مخه يې ونيول شي.
- تاسو بايد تل د دېوال تخته د دېوال سره مضبوطه کړئ تر څو پشتي ونه ښوېږي. يواځې د اصطکاک په قوه تکيه مکوئ.
- د دېوال تختې څومره چې ممکنه وي بايد د زيانمن شوي دېوال تر سره وغزول شي، او که امکان ولري د دېوال ښخ ته هم ورسيږي.
- د دېوال د تختې او دېوال تر مينځ د تماس د غښتلي کولو لپاره د شګو کڅوړې ځای پر ځای کولای شئ، د بېلګې په ډول که د دېوال سطحه اواره نه وي.
- که ممکنه وي، د سينګار شوي دېوال د پشتي کولو نه ډډه وکړئ او که پشتي کول يې اړين وي نو تاسو کولای شئ چې د دېوال او د دېوال د تختې تر مينځ ململ او سپنج ځای پر ځای کړئ. د دېوال د تختې د اندازې د معلومولو پر مهال دا خبره په پام کې ونيسئ چې تاسو به د دېوال تخته د دېوال سره مضبوطوئ.
- په هغه صورت کې چې د دېوال په ښخ کې کومه برخه ړنګه شوي وي، د سوري د بندولو لپاره د شګو کڅوړې کارولی شئ او لندمهاله ملاتړ ورکولای شئ.

د کورني امنيت وزارت. ۲۰۱۱ کال. د باثباته کولو او پښتي کولو تخنيکونو لپاره د ساحې لارښود. واشنګټن، ډي سي، د امريکا د متحده ايالاتو د کورني امنيت وزارت.

**پدې انټرنيټي پته کې يې موندلی شئ:** https://perma.cc/ZN۳R-NRWU

د اور وژنې ملي اداره – د اودينه پوهنتون. ۲۰۱۱ کال. د لندمهاله کارونو لارښود، د زلزلې له کبله د رامنځته شوي بېړني حالت پر مهال چټکه تخنيکي لاره چاره، روم، د کورنيو چارو وزارت.

**پدې انټرنيټي پته کې يې موندلی شئ (په ايټالوي ژبه کې) :** https://perma.cc/AP۸A-22L2

ګريماز، ايس.، کاورياى، ايم.، مانينو، ايي.، مونارو، ايل.، بليزى، ايم.، بولونيزى، سي.، کاچيولاى، ايم.، ډئوډوريکو، ا.، مايولو، ا.، پونټيچلي، ايل.، بهرازره، ايف.، مليسن، پي.، او موريټي، ا. ۲۰۱۰. ډيميکوم. سټاپ، د هغه ودانيو د محافظت لپاره چې د زلزلې له کبله زيانمنې شويدي، د پښتي کولو نمونې او د عملياتو کرښلارې.

**پدې انټرنيټي پته کې يې موندلی شئ:** https://perma.cc/62JX-UGLP

د امريکا د متحده ايالاتو د اردو د انجينرۍ اداره. ۲۰۱۳ کال. د ښاري پلټنې او ژغورنې د پښتې کولو د عملياتو لارښود. واشنګټن، ډي سي، د امريکا د متحده ايالاتو د دفاع وزارت.

**پدې انټرنيټي پته کې يې موندلی شئ:** https://perma.cc/H۶NA-WBRY

## د غیر منقول او په اصلي ځای کې د کلتوري میراث د وچولو لپاره لارښوونې

- کله چې سطحې پاکوئ، د لوړ فشار د اوبو د کارولو نه ډډه وکړئ. فشار نازکو/ماتېدونکو توکو ته نور زیان اړولی شي او مضر واړه حشرات خپرولای شي. د سطحو نه د ختو او چټلیو د پاکولو لپاره پلاستیکي وسایل او ارامه – بهېدونکي پاکې اوبه وکاروئ. د فلزي وسایلو پرتله پلاستیکي وسایل د کم زیان لامل ګرځي.
- د وچولو د پروسې د ګړندي کولو لپاره مېخانیکي پکې کارول کېدای شي، لیکن، دوی د دروازو او کړکیو د خلاصو پرېښودلو، کوم چې د ودانۍ نه د رطوبت ویستلو لپاره اړین دي، بدیل ندي.
- ګازي منقلونه مه کاروئ، ځکه دوی د اوبو بخار تولیدوي.
- په یاد ولرئ چې د ۱۸ درجې سانتیګراد نه بره تودوخه شاید فنګس ته وده ورکړي.
- په زړو ودانیو کې د غښتلو رطوبت ضد ماشینونو د کارولو نه ډډه وکړئ. دواړه ډوله یخوونکي او وچوونکي د رطوبت ضد ماشینونه د رطوبت د اندازه کولو وسیلې (رطوبت سنج) پواسطه کنټرولېدای شي. که د رطوبت دا ډول کنټرول سم وکارول شي، نو دا د وچولو مناسب شرایط چمتو کولای شي.

### د سینګار شوو سطحو لپاره

- هر ډول سینګار شوو سطحو ته د لاس وروړلو دمخه په دېوالي نقاشیو یا په موزایکو کې د روزل شوي محافظ نه مشوره واخلئ یا ځان ډاډه کړئ چې داسې روزل شوی محافظ شته.
- هڅه وکړئ چې اوبه د سینګار شوې سطحې څخه لیرې کړئ. د اوبو ضد فرشونو په اړوند، کوم چې په فرش کې د اوبو د ننوتو مخه نیسي او اوبه په چټکۍ سره دېوالونو ته لیږدوي، خبردار اوسېږئ.
- که د دېوال یوازې یو طرف سینګار شوی وي، هڅه وکړئ چې اوبه د ناسینګار شوي مخ له لارې وبهوئ. د سینګار شوي مخ د وچولو پروسه د ترپال په کارولو سره ورو کړئ. د سینګار شوې سطحې سره د مستقیم تماس د مخنیوي لپاره نرم نارنګ شوی ململ او یا د سپین نخي ټوکر ټوټې وکاروئ.
- که تاسو وګورئ چې په سطحه باندې نازک سپین پوډر موجود دي، دا د مالګې د لیږد نخښه ده. دغه موقعیتونه مستند کړئ او د لرې کولو لپاره یې د محافظ نه مرسته وغواړئ. تاسې هغه مالګه چې په سطحه باندې د دانو بڼه غوره کړې، د برش پواسطه لرې کولای شئ، ځکه دا کار د مالګې د بیاځل حل کېدو او په دېوال کې د جذبېدو مخنیوی کوي.

## په بیړنۍ توګه د جوړښتونو د باثباته کولو او د سنګارونکو توکو په خپل اصلي ځای کې د ساتنې لپاره مواد او تجهیزات

- ☐ د لنډ مهاله چوکاټ د جوړولو لپاره د لرګیو یا د بانس پایې.
- ☐ ترپالونه: ډبل، اوبدل شوي او پوښ لرونکي/پوښل شوي ترپالونه له دروازې بهر شرایطو کې ښه کار کوي. که امکان لري، د حرارت د ډېر لوړېدو نه د مخنیوي لپاره سپین ترپالونه ، او د شکېدلو نه د مخنیوي لپاره دمخه سوري کړی شوو غښتلو پتو لرونکي ترپالونه وکاروئ.
- ☐ پرې پرې کړی شوي د زنګ ضد پوښ لرونکي د اوسپنې یا فولادو ځادرونه (سي جي ای/سي جي ایس): د دې ځادرونو د ټیټ کیفیت په اړه خبردار اوسئ، ځکه دوی ډېر ژر خرابېږي. لږ تر لږه ۰،۳ ملي ضخامت لرونکي اوسپنیز یا فولادي ځادرونه یو څو کاله دوام کوي.
- ☐ میخونه، په ځانګړي ډول د لوی سر لرونکي میخونه د سي جي ای/سي جي ایس ځادرونو د نښلولو/وصلولو لپاره استعمالېدای شي.
- ☐ څټکي، اره، پېچې میخونه، پېچ تاوونه، د لرګیو لپاره څولي، او بولټونه.
- ☐ د اندازې اخیستلو فیتې ، شاقولونه او ابترازو.
- ☐ سیم: د زنګ ضد پوښ لرونکی سیم چې د درندو دندو د پاره کارول کیږی د بانس او ترپال د تړلو لپاره، یا د چوکاټ د ملاتړ لپاره کارول کېدای شي.
- ☐ د تړلو له لاری د لرګیو د ټوټو د یوځای کولو لپاره فلزي پټې یا فلزي تختې.
- ☐ د بانس او ترپال د تړلو، یا د یو چوکاټ د لنګر کولو لپاره داسې رسۍ چې له طبیعي تارونو/رېښو نه جوړه شوي وي، وکاروئ.
- ☐ د چوکاټ د لنګر کولو یا د ترپال د تړلو لپاره واړه موږې او لوی موږې.
- ☐ تیګي او د شګو کڅوړې: د چوکاټ د لنګر کولو یا د ترپال د تړلو لپاره.
- ☐ بېلچې او کېنتي: په هغه صورت کې چې تاسې د چوکاټ د لنګر کولو یا ترپال د تړلو لپاره قوتو ویستلو ته اړتیا ولرئ.
- ☐ د پایو د لنګر کولو لپاره سطلونه، په هغه صورت کې چې تاسې مځکه د قوتي کولو لپاره کیندلای نشئ.
- ☐ سیمنټ یا چونه: دا د پایو په مضبوط ډول لنګر کولو کې مرسته کوي.
- ☐ د لرګیو پانې: دا د پایو په باثباته کولو کې مرسته کوي.
- ☐ د ترپال د چوکاټ سره د وصلولو لپاره د پلاستیک کړی ، د بوتل سرونه او د لرګیو وړې تختې.

☐ ګنډلو توکي (ستنې او تار) یا غښتلې چسپېدونکې فیته (د اوبو پر وړاندې مقاومه، د توکر پوښ لرونکې او د فشار پر وړاندې حساسه).

**د لندو جوړښتونو د وچولو لپاره**

☐ سیمي جالۍ یا سوري لرونکې تختې چې د هوا د جریان د مخنیوي پرته خالي ځایونه خوندي کړي.

☐ د خټو او چټلیو د لرې کولو لپاره بېلچې، جاروګانې او لاسي کراچۍ. که ممکنه وي، پلاستیکي بېلچې او جاروګانې غوره کړئ، ځکه د فلزي وسایلو پرتله دوی د کم زیان لامل ګرځي.

☐ د ایسارو اوبو د لرې کولو لپاره پمپونه او سطلونه.

☐ پلاستیکي برشونه او ارامه بهېدونکي پاکې اوبه، د سطحو نه د خټو او چټلیو د وینځلو لپاره.

☐ په دېوالونو کې د رطوبت د اندازه کولو لپاره رطوبت سنج یا هغه اله چې د ګنو مقاصدو/ موخو (ګنموخې اله) لپاره کارول کیږي.

☐ میخانیکي پکي چې د وچولو پروسه تېزه کړي.

☐ منقلونه کارول کېدای شي لیکن ګازي منقلونه هیڅکله هم مه کاروئ، ځکه دوی د اوبو بخار تولیدوي. دا په یاد ولرئ چې د ۱۸ درجو نه لوړه تودوخه شاید فنګس ته وده ورکړي.

☐ یخوونکي او وچوونکي د رطوبت ضد ماشینونه د رطوبت د اندازه کولو وسیلې (رطوبت سنج) پواسطه کنترولېدای شي چې د وچولو مناسب شرایط چمتو کړي. په زړو ودانیو کې د غښتلو رطوبت ضد ماشینونو د کارولو نه ډډه وکړئ.

☐ ترپال د سینګار شوې سطحې د وچولو په کنترول کې مرسته کولای شي. د سینګار شوې سطحې سره د مستقیم تماس د مخنیوي لپاره نرم ململ یا سپینه ټوټه وکاروئ.

**د ساده پشتۍ کولو لپاره**

☐ ښتکي، ارې، پیچي مېخونه، پېچ تاوونه، د لرګي څولي او بولټونه.

☐ د اندازې اخیستلو فیتې، شاقلونه او ابترازوګان.

☐ د لوړ کیفیت د لرګیو پایې او تختې (د بېلګې په ډول صنوبر یا سوېلي نختر/ارچه).

☐ مېخونه: ۸ ډې (قطر: ۳،۵ ملي متره، اوږدوالی: ۵ سانتي متره) او ۱۶ ډي (قطر: ۳،۷ ملي متره ، اوږدوالی: ۸ سانتي متره).

☐ د ارتفاع سره د عیارېدو وړتیا لرونکي معیاري فلزي پایې.

☐ د شګو کڅوړې، ربړ یا سپنج (د بېلګې په ډول د پولي ایتلین سپنج چې د ایتافوم په نوم پلورل کېږي) چې د سطحو ساتنه وکړي، یا د دېوال د تختې او دېوال تر مینځ تماس

بنه کړي.

- ☐ نرم او نارنګ شوی ململ، یا سپین نخي ټوکر چې سطحې د سولېدو نه خوندي وساتي.

**په کمربندونو باندې د یو جوړښت د ترلو لپاره**

- ☐ مصنوعي کمربندونه د ریچیت لاستو/کونډو او  دندانو سره (لږ تر لږه ۲ ملي متره ډبل او ۵۰–۷۵ ملي مترو پورې سورور).
- ☐ د فولادو تختې چې د بار/وزن د خوړولو/وېشلو لپاره د کمربند او دیوال/پایې تر مینځ ځای پر ځای کیږي.
- ☐ د لرګیو تختې (نږدې ۳ سانتي متره ډبلې) چې د فولادي تختې او دیوال/پایې تر مینځ ځای پر ځای کیږي.
- ☐ ربړ یا سپنج (د بېلګې په ډول د پولي ایتلین سپنج چې د ایتافوم په نوم پلورل کیږي) د سطحو لا نوره ساتنه کولای شي او د دیوال د تختې او دیوال تر مینځ تماس بنه کولای شي.
- ☐ نرم او نارنګ شوی ململ، یا سپین نخي ټوکر چې سینګار شوي سطحې د سولېدو نه خوندي وساتي.

**په خپل اصلي ځای کې د سینګار شوو سطحو د خوندي کولو لپاره اکمالات او تجهیزات**

- ☐ د اوبو نه د سطحو د ساتلو لپاره ترپالونه.
- ☐ د شګو کڅوړې چې د سینګار شوو سطحو د شا طرف ډک کړي او هغوی د جټکو نه خوندي وساتي (ډاډ تر لاسه کړئ، چې د شګو کڅوړې رطوبت نه ایساروي/جذبوي).
- ☐ ربړ یا سپنج (د بېلګې په ډول د پولي ایتلین سپنج چې د ایتافوم په نوم پلورل کیږي) چې د سطحې او دیوال د تر مینځ تماس بنه کړي، یا د فولادو تختې ، که چېرته اړتیا وي.
- ☐ نرم او نارنګ شوی ململ، یا سپین نخي ټوکر چې سینګار شوي سطحې د سولېدو نه خوندي وساتي.
- ☐ د لرګیو یا د فولادو تختې چې بار/وزن ووېشي، په هغه صورت کې چې تاسې باید یو داسې توکی چې سینګار شوي سطحې لري، پشتي کړئ/په کمربند سره راټول کړئ (فرش، چت، دیوال، پایې، او داسې نور).



د اوسپنې او فولادو خادرې



د ارتفاع سره عیارېدونکې پایې



رطوبت سنج



د لرګيو پايې



واړه موري او لوی موري



د لرګي پاڼې



سيمي جالې (لويه)



سيمي جالۍ (نازکه)



مصنوعي کمربندونه د دندانو او کونډو سره



فلزي پټۍ



آب ترازو



بيلچه او ګېنتۍ



د لرګيو تختې



شاقول

# سرچینې

## دوهم قدم: د پېښې وروسته د ساحې د زیان او ګواښ ارزونه


BC Housing. 2018. Rapid Damage Assessment. Burnaby, BC Housing. Available at: https://www.bchousing.org/about/rapid-damage-assessment [Accessed 18 February 2018].
همېشنۍ انټرنيټي پته: https://perma.cc/686P-5JFE

Connecticut Technology Transfer Center. 2010. Protective Equipment for Workers in Hurricane Flood Response. Connecticut, School of Engineering, University of Connecticut. Available at: https://www.t2center.uconn.edu/pdfs/SAFETY%20BRIEF%20 2010-7.pdf [Accessed 9 February 2018].
همېشنۍ انټرنيټي پته https://perma.cc/LG2T-FTDZ

Heritage Collections Council. 1998e. reCollections: Caring for Collections Across Australia – Managing People. Canberra, Heritage Collections Council. Available at: https://aiccm.org.au/ sites/default/files/docs/reCollections/5_managing_people.pdf [Accessed 18 February 2018].
همېشنۍ انټرنيټي پته https://perma.cc/RR45-BJDW


## درېیم قدم: مصوونیت/خوندیتوب او باثباته کول


Australian Institute for the Conservation of Cultural Material. 2017. Visual Glossary. Canberra, Australian Institute for the Conservation of Cultural Material. Available at: https://aiccm.org.au/conservation/visual-glossary [Accessed 22 February 2018].
همېشنۍ انټرنيټي پته https://perma.cc/4P8N-5GBP

Australia International Council on Monuments and Sites (ICOMOS). 2013. The Burra Charter: The Australia ICOMOS Charter for Places of Cultural Significance, 2013. Burwood, ICOMOS. Available at: http://australia.icomos.org/wp-content/uploads/The-Burra-Charter-2013-Adopted-31.10.2013.pdf [Accessed 21 June 2017].
همېشنۍ انټرنيټي پته https://perma.cc/ULL9-UY9U

Australian War Memorial. n.d. Conservation advice: Cleaning Soot Damaged Objects. Canberra, The Australian War Memorial. Available at: https://www.awm.gov.au/about/our-work/projects/soot [Accessed 18 February 2018].
همېشنۍ انټرنيټي پته https://perma.cc/Q38H-G6KT

Canadian Conservation Institute. 2007. Vacuum Freeze-drying

Archaeological Artifacts. Canadian Conservation Institute (CCI) Notes 4/2. Ottawa, Minister of Public Works and Government Canada. Available at: https://www.canada.ca/en/conservation-institute/services/conservation-preservation-publications/canadian-conservation-institute-notes/vacuum-freeze-drying-.[archaeological-artifacts.html [Accessed 12 October 2017
همپشنی انترنيتي پته https://perma.cc/QRP8-LYKA

Canadian Conservation Institute. 2017. Agents of Deterioration. Ottawa, Minister of Public Works and Government Canada, Ottawa. Available at: https://www.canada.ca/en/conservation-institute/.[services/agents-deterioration.html [Accessed 22 February 2018
همپشنی انترنيتي پته https://perma.cc/S65F-KNA5

Canadian Conservation Institute. 2017. Care of Objects and Collections. Ottawa, Minister of Public Works and Government. Available at: https://www.canada.ca/en/conservation-institute/.[services/care-objects.html [Accessed 22 February 2018
همپشنی انترنيتي پته https://perma.cc/ZDG8-Y4UU

Corpo Nazionale dei Vigili del Fuoco – Università degli Studi di Udine. 2011. Manuale Opere Provvisionali, l'intervento tecnico urgente in emergenza sismica. Rome, Ministero dell'Interno. Available (in Italian) at: http://www.vigilfuoco.it/allegati/STOP/ ManualeSTOP.[pdf [Accessed 24 October 2017
همپشنی انترنيتي پته https://perma.cc/AP8A-22L2

Department of Homeland Security Federal Emergency Management Agency (FEMA). 2009. FEMA National US&R Response System Structural Collapse Technician Module 2a Shoring Basics. Washington, DC, FEMA. Available at: https:// www.fema.gov/pdf/emergency/usr/module2a.pdf [Accessed 29 .[April 2018
همپشنی انترنيتي پته https://perma.cc/WF28-Q5QU

Department of Homeland Security Federal Emergency Management Agency (FEMA). 2018. Reclaiming Precious Heirlooms From Flood Waters. Washington, DC, U.S. Department of Homeland Security. Available at: https://www.fema.gov/news- release/2003/09/23/reclaiming-precious-heirlooms-flood-waters [Accessed 18 February .[2018
همپشنی انترنيتي پته https://perma.cc/XY64-GPM6

Department of Homeland Security Science and Technology Directorate, Infrastructure Protection and Disaster Management

Division. 2011. Field guide for Building Stabilization and Shoring Techniques. Washington, DC, U.S. Department of Homeland Security. Available at: https://www.dhs.gov/xlibrary/assets/st/st-.[120108-final-shoring-guidebook.pdf [Accessed 24 October 2017
همپشنۍ انټرنیټي پته **https://perma.cc/ZN3R-NRWU**

Grimaz, S., Cavriai, M., Mannino, E., Munaro, L., Bellizzi, M., Bolognese, C., Caciolai, M., D'Odorico, A., Maiolo, A., Ponticelli, L., Barazza, F., Malisan, P. & Moretti, A. 2010. Vademecum, STOP, Shoring Templates and Operating Procedures for the Support of Buildings damaged by Earthquakes. Rome, Ministry of Interior – Italian Fire Service. Available at: http://sprint.uniud.it/sites/default/.[files/Vademecum_STOP_eng_0.pdf [Accessed 24 October 2017
همپشنۍ انټرنیټي پته **https://perma.cc/62JX-UGLP**

Heritage Collections Council. 1998a. reCollections: Caring for Collections Across Australia – Caring for Cultural Material 1. Canberra, Heritage Collections Council. Available at: https://aiccm.org.au/sites/default/files/docs/reCollections/1_caring_for_cultural_.[material_1.pdf [Accessed 18 February 2018
همپشنۍ انټرنیټي پته **https://perma.cc/9DS2-DRPA**

Heritage Collections Council. 1998b. reCollections: Caring for Collections Across Australia – Caring for Cultural Material 2. Canberra, Heritage Collections Council. Available at: https://aiccm.org.au/sites/default/files/docs/reCollections/2_caring_for_cultural_.[material_2.pdf [Accessed 18 February 2018
همپشنۍ انټرنیټي پته **https://perma.cc/49CQ-QVUV**

Heritage Collections Council. 1998d. reCollections: Caring for Collections Across Australia – Managing Collections. Canberra, Heritage Collections Council. Available at: https://aiccm.org.au/sites/default/files/docs/reCollections/4_managing_collections.pdf .[[Accessed 18 February 2018
همپشنۍ انټرنیټي پته **https://perma.cc/5NAY-J562**

Heritage Collections Council. 1998f. reCollections, Caring for Collections Across Australia – Handling, Transportation, Storage and Display. Canberra, Heritage Collections Council. Available at: https://aiccm.org.au/sites/default/files/docs/reCollections/6_htsd.[pdf [Accessed 18 February 2018
همپشنۍ انټرنیټي پته **https://perma.cc/5XRJ-U9R3**

Historic England. 2015. Flooding and Historic Buildings. Swindon, Historic England. Available at: https://content.historicengland.org.uk/images-books/publications/flooding-and-historic-buildings-2ednrev/heag017-flooding-and-historic-buildings.pdf/ [Accessed 18 February 2018].
همپشنی انترنیتي پته https://perma.cc/M66M-3E8L

International Federation of Red Cross and Red Crescent Societies. n.d. The IFRC Shelter Kit. Geneva, International Federation of Red Cross and Red Crescent Societies. Available at: http://www. ifrc.org/PageFiles/95526/publications/D.03.a.07.%20IFRC%20 shelter-kit-guidelines-EN-LR.pdf [Accessed 18 February 2018].
همپشنی انترنیتي پته https://perma.cc/RY5Z-DEU3

International Federation of Red Cross and Red Crescent Societies. 2015. IFRC bamboo frame for emergency shelters and emergency roofs – Technical sheets. Geneva, International Federation of Red Cross and Red Crescent Societies. Available at: http://www.ifrc.org/Global/Documents/Secretariat/Shelter/IFRC-bamboo-frame-A4-FINAL-EN-2015.pdf [Accessed 18 February 2018].
همپشنی انترنیتي پته https://perma.cc/S7YY-78MG

Levitan, A. 1993. Emergency Treatment for Water-Soaked Furniture and Wooden Objects. National Parks Service Conserve O Gram, 7(7). Washington, DC, U.S. Department of the Interior. Available at: https://www.nps.gov/museum/publications/conserveogram/07-07.pdf [Accessed 18 February 2018].
همپشنی انترنیتي پته https://perma.cc/4J9T-SFVZ

McCord, M., & Stone, T. 2002. Deterioration of Collections. Generation 2: Education and Support Materials. ICCROM unpublished material. Rome.

Russell, R. & Winkworth, K. 2009. Significance 2.0: A guide to assessing the significance of collections. Canberra, Collections Council of Australia Ltd. Available at: https://www.arts.gov.au/sites/g/files/net1761/f/significance-2.0.pdf [Accessed 18 February 2018].
همپشنی انترنیتي پته https://perma.cc/GJ8G-ERAN

State Library of Queensland. 2014a. Caring for your collections: Salvaging water-damaged collections. Brisbane, Queensland Government. Available at: http://www.slq.qld.gov.au/ data/assets/pdf_file/0005/128984/Caring-for-your-collections-Salvaging-water- damaged-collections.pdf [Accessed 18 February 2018].

همېشنۍ انترنيتي پته https://perma.cc/8V9X-YFNS

State Library of Queensland. 2014b. Caring for your collections: Freezing water-damaged and insect infested collections. Brisbane, Queensland Government. Available at: http://www. slq.qld.gov.au/__ data/assets/pdf_file/0004/128983/Caring-for- your-collections-Freezing-water-damaged-and-insect-infested- collections.pdf [Accessed 18 February 2018].

همېشنۍ انترنيتي پته https://perma.cc/V6KB-XKZL

Tandon, A. 2016. Endangered Heritage: Emergency Evacuation of Heritage Collections. Paris, UNESCO & Rome, ICCROM. Available at: https://www.iccrom.org/wp-content/uploads/Endangered-Heritage_INTERACTIVE.pdf [Accessed 14 February 2018].

همېشنۍ انترنيتي پته https://perma.cc/7J4C-TJDK

United States Army Corps of Engineers. 2013. Urban Search & Rescue Shoring Operations Guide. Washington, DC, United States Department of Defence. Available at:http:// www.disasterengineer.org/LinkClick.aspx?fileticket=_ qYQCrKHi2k%3D&tabid=57&mid=394 [Accessed 14 July 2018].

همېشنۍ انترنيتي پته https://perma.cc/H6NA-WBRY

Van Balen, K. 2008. The Nara Grid: An evaluation Scheme Based on the Nara Document on Authenticity. APT Bulletin, 39(2/3): 39–45. Available at: http://orcp.hustoj.com/wp-content/uploads/2016/01/2008-The-Nara-Grid-An-Evaluation-Scheme-Based-on-the-Nara-Document-on-Authenticity.pdf [Accessed 17 January 2018].

همېشنۍ انترنيتي پته https://perma.cc/DL8A-E32V

# کلتور انتظار نشي کولای

ICCROM

Via di San Michele 13
00153 Rome
Italy
+39 06585531
www.iccrom.org

C
Fonds
د انکشاف او کلتور
لپاره د شهزاده کلاز د
بسپنې صندوق

Herengracht 603
1017 CE Amsterdam
Netherlands
+31 20 3449 160
www.princeclausfund.org

© ICCROM 2021
© Prince Claus Fund for Culture and Development 2021

ICCROM ISBN 978-92-9077-341-2

د برټش کونسل په لورینه او له سخاوت ډکه مرسته
ژباړل شویدی.

ISBN 978-92-9077-341-2
9 789290 773412 >

SAYED & NADIA Consultancy Inc.

BRITISH COUNCIL